# خلورویشت ساعته

## چې افغانستان یې واړاوه



تدوین او سریزه:

**ډاکټر داود جنبش**

# د دویم خپراوي په اړه یادښت

داکتاب (( )) په لومړي ځل په جرمنۍ کې د افغانستان د کولتوري ودې ټولنې له خوا خپور شوی و، خو د کتاب د ارزښت او لوستوالو د لېوالتیا له امله په لږ وخت کې نایاب شو.

دانش خپرندویې ټولنې د کتاب ارزښت ته په پاملرنه (د افغانستان د کولتوري ودې ټولنې) له چارواکیو سره د بیا خپراوي په اړه اړیکې ټینګ کړل، چې هغوی په ورین تندي او لورېینه د کتاب د بیا چاپونې امتیاز او سپارښت دانش خپرندویې ټولنې ته وباښه.

دانش خپرندویه ټولنه ددې اثر مینه والو ته د کتاب په وړاندې کولو د لومړنی خپرندویې ادارې او د هغې د ښاغلیو چارواکیو په تېره د ښاغلي او منلي زرین انځور مننه پر ځای پور بولي.

په درنښت

**دانش خپرندویه ټولنه**

پېښور

www.aghalibrary.com

# لړلیک

| سرلیک | لیکوال | مخ |
| --- | --- | --- |
| ...ځکه | ......... ډاکټر داود جنبش | ........الف |
| د جمهوریت بنسټ ایښودونکی | .....انجمنیر کریم عطایي | ........ ۱ |
| یو ویاړلی افغان ژوند | .............غلام محمد زرملوال | ........۷ |
| د ثور کودتا _ د مرکز پاشنې پیل | ...موسکا داود | ............ ۱۵ |
| سردار محمد داود دظاهر شاه له | .....بي.بي.سي ډاټ کام | .......... ۲۰ |
| د لومړني جمهوریت پای | ........... | ...........۲۳ |
| ۲۴ ساعته چې افغانستان | ............داود جنبش | ...........۲۷ |
| مړي ښنګه وموندل شول | .............عبدالولي باز | ........ ۴۴ |
| خاطرې | ............... | ............... ۵۰ |
| داود خان او ستاسې خاطرې یا نظرونه | ............... | .......... ۵۶ |
| انځورونه | ............... | ............... ۷۰ |

www.aghalibrary.com

# ځکه،...

پر دې مجموعې د څو کرښو د لیکلو حق ځانته پر دې نه ورکوم،، چې د خپلې رسنۍ له لاې مې یې د خپرولو زیار ایستلی و. زه له دې لارې غواړم د هغه درانده پور یوه برخه پرې کړم، چې دېرش کاله مې یې د هغې د اتل له نامه پر خپلو اوږو ګرځاوه پر ما ـ د یوه افغان په توګه د هغه پور له دې باندې دی، چې زما لپاره زما د هېواد لپاره وزېږېد او ستر شو او د دواړو له مینې یې ځان ځار کړ، خو موږ دواړه یې اوږده کلونه هېرو د نامه اخیستلو ته مهال ونه مونده.

د داود خان واکمني زما د بالغ ژوندانه همزولې شوه، خو چې څومره ناڅاپي راغلې وه، هومره په بیړه ولاړه. د هغې د نشتوالي په دېرشو کلو کې مې ـ د یوه کوچني ځنډ په توپیر ـ ډېره لږه دا هیلې ته زړه وتلې، چې د افغانستان د لومړني ولسمشر او د هغه د کورنۍ تراژیدي وسپړم او خپل ملت پرې خبر کړم. په افغانستان کې د شوروي اتحاد د لاسوهنو او تر داود خان وروسته د شوروي له تحت الحمایه رژیمونو سره د کمونستي زبرځواک د راشه درشه په اړه د اسنادو او آثارو ژباړل، چې مخکې خپاره شوي دي، د همدغو هڅو یوه برخه جوړوي.

www.aghalibrary.com

که څه هم پخپله د داود خان پر ژوندانه او واکمنۍ شوي لیکني لږې نه دي، خو ماته ښکي د هغه څه ژور څرک لږ لګېدلی، چې د ۱۳۵۷ کال د غويي د اوومې او اتمې په ۲٤ ساعتونو کې پر هغه او کورنۍ یې تېر شوي دي. ددې لیکنو په چمتو کولو او ټولولو کې زما یو هدف هم دا و، چې دغه تشه ډکه شي او ملت د هغې غمیزې تل ته ورکوز شي، چې داود او نژدې ټولې کورنۍ یې له شاهدانو پرته د ګلخانې ماڼۍ د څلورو دیوالونو دننه وزغمله. د محمد داود نکل یوازې د یوه واکمن او یوه ویاړلي او مغرور حاکم کیسه نه ده، دا د افغانستان په نامه له یوې لیلا سره د سر سپارلې مینې تراژيدي ده.

... ځکه نو زه دا مجموعه چې زما له خپلو پلټنو او د ځینو نورو دوستانو له مقالو څخه جوړه او نژدې ټوله یې د بي بي سي پر پښتو وېبپاڼې راوتلې، له وطن سره د سردار محمد داد خان د تودې او ښکارې مینې په نامه پیلوم او د هغه د مېړنۍ، ورور، خور، درېواړو زامنو، دوو لوڼو، نږور، زوم، ښینې، ورېرې او د درې کلن وایګل په ګډون لمسیانو یاد ته ځانګړې کوم، چې له هغه سره یوځای د وطن له لیلا ځار شول.

**داود جنبش**

د ۱۳۸۷ لمریز هجري ورستی ورځ

لندن



# د جمهوريت بنسټ ايښودونکی

**ډيپلوم انجنير کريم عطايي**
**د لومړني جمهوريت د مخابراتو وزير**

مرحوم داود خان زموږ ملت ورونه او برابر قومونه بلل او هر يو پرې د سترګو د کسي په څېر ګران و.

لارښوونکي په هر هېواد کې تاريخ جوړوونکي وي. که د خپل هېواد تاريخ ته وګورو نو د زمانې په اوږدو کې يې دغسې لارښوونکې څېرې درلودلي چې هېواد يې له بدمرغيو نه د رڼا پر لور سم کړی دی.

خو له بده مرغه چې د هېواد اوسنی درد د دغسې ملي مشرانو نشتوالی دی. بېلابېلو سياسي، نړيوالو او سيمه ييزو عواملو زموږ لمن نيولې او ګاونډيانو مو چې خپلې ګټې زموږ په بدمرغۍ کې لټوي، موږ يو د بل په وړاندې درولي يو او لکه نانځکې مو سره لوبوي او موږ هم پرېږدو چې ولوبېږو.

شک نشته چې د افغانستان په څېر هېواد برخليک په يو لړ پېچلو عواملو پورې تړلی دی. خو يوه ملي مشر کولای شي دا دغه عوامل په يوه يا بل ډول د هېواد د ملي ګټو پر لور وڅکوي...

مرحوم محمد داود... (د يوه ملي لارښود په توګه په خپل

وخت کې)... وکړای شول چې د ختیځ او لویدیځ د سیاسي سیالیو په کارولو، افغانستان له ګوښه والي نه د پرمختګ لوري ته وباسي او د نړۍ د نورو ملکونو او نا پیيلو هېواد و په کتار کې ورته ځای وټاکي.

ده ملي ګټې لوړې بللې او ژوند یې د هېواد د لوړتیا له پاره کاوه. پر هغه خپل هېواد ګران و او پر یوازیني څښتن یې ټینګ ایمان درلود.

مرحوم محمد داود د افغانستان د ودانۍ لپاره- که ټولنیز وه. یا اقتصادي او سیاسي، بېشمېره کارنامې لري. خو تر ټولو غوره یې په افغانستان کې د جمهوري نظام جوړول و چې د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ یې اعلان کړ. دغه نظام یوه بېساري ډالۍ وه چې زموږ ولس یې تود هرکلی وکړ.

شهید محمد داود د ټولو په زړونو کې ځای درلود. د چنګاښ تر پاڅون وروسته زرګونو وګړو په ورځو، اوونیو او آن میاشتو لاسلیک کړي تومارونه راستول چې پکې له جمهوري نظام سره د هغوی مینه تمثیل شوې وه.

دغه شهید د ۱۳۵۵ کال په لویه جرګه کې د اساسي قانون تر تصویب وروسته د خپلې یوې لور او د هغې د څښتن لیک ته په ځواب کې هغه څه ولیکل چې له ورایه یې په کې د احساساتو څرک لګېږي:

"... د لوی څښتن له دربار نه د لارښوونې هیله من یم چې دا درونــد او ستر پېټی چې سپېڅلي افغان ملت ماته سپارلی، په پوره شرافت او ایمانداری سره... د خپلې دورې په پای کې په بري او شرافت سره د ملت په غوښتنه روغ رمټ خپل ځایناستي ته وسپارم".

یو ځل یې د یوه بهرني سفر پر مهال خپل یوه بل بچي ته

په ليک کې داسې وليکل:

"... د څښتن په غوښتنه سبا هند ته او وروسته پاکستان ته ځم او بيا خپل هېوازلي. خوږ او ګران هېواد ته راستنېږم. ددې ټول سفر په ترځ کې مې لوی او بې نيازه څښتن ته دوعا او هيله داوه - او تل به وي - چې يوه ورځ د افغانستان له راتلونکو بچيانو سره په ګډه خپل وطن پرمختللی، مترقي او سرلوړی ووينم."

مرحوم محمد داود خورا په زړه پورې ځانګړتياوې درلودې. ترخپل وس ډېرکار يې کاوه. د هغه ټوله خوښي، استراحت او لذت ولس ته په چوپړ کې نغښتې و. بله هېڅ تفريح يې نه کوله، آن له ښو خوړو او کاليو سره يې مينه نه درلوده. په زړورتيا سره ويلی شو چې هېڅکله يې لاس په هېڅ ډول فساد کې ښکېل نه و. د خورا پاک لاس او پاکې لمنې څښتن و.

مرحوم محمد داود له ولس سره مينه درلوده او غوښتل يې چې هېواد يې ملي او کلتوري سترتوب ولري. هغه د ملي غرور او ملي وياړ يو ځلوونکی و.

پر هغه سهار چې نور يې په بوډا او ناتوانه بدن کې ځواک نه و پاته، د روس د شاګردانو په وړاندې کلک ودرېده او سر يې ټيټ نه کړ. هغه په دې ټينګ درېدو او نه تسليمېدو سره د يوه ملت د مقاومت حماسه په خپلو وينو وکښله. دی د تېرې پېړۍ په وروستۍ څلورمه کې د افغانستان د شهيدانو د ټولګي سرلاری دی.

شهيد محمد داود ذکي او د درک څښتن و. په نړيوالو سياسي مسايلو پوهېده او د ورځې جاري سياستونو ته يې ځانګړی پام کاوه. د ورځې پېښې يې په مينه تعقيبولې او ژورې تحليلولې او نوې ټکنالوژۍ ته يې ټينګ پام کاوه. هغه د لارو او واټونو، ښارونو او کورونو په جوړولو کې خورا مهارت او لوړ ذوق

درلود. په مسلكي او فني برخو كې يې د كارپوهانو نظر ته ډېر ارزښت وركاوه.

هغه د هېواد له سپين ږيرو او مشرانو سره - هر ځاى چې به وو- نږدې پېژندګلوي درلوده او د هېواد هر ګوټ يې له ځانګړتياوو سره پېژانده.

محمد داود خپل ملت " ورونه او برابرقومونه " بلل او هر يوې پرې د سترګو د كسي په څېر ګران و. هيله يې داوه چې ټول افغانان، كه زاړه وي يا ځلميان، ښځې وي كه نارينه، له توپير او امتياز پرته څنګ پر څنګ د خپل هېواد په ودانۍ بوخت شي.

د مرحوم محمد داود هيله داوه چې زموږ د هېواد جنډه د نړۍ د پرمختللو هېواد و په كتار كې ورپېږي، خو له بده مرغه چې خپلې دغې هيلې ته ونه رسېد.

لوى انسانان هم تر بشر پورته نه دي او بې تېروتنو نه وي. نو دا هيله به بېځايه وي چې څوک محمد داود له هر ډول تېروتنې پاک وبولي. يو خل چې به يې پر چا باور وكړ، په آسانۍ يې خپل دغه باور ترې بېرته نه اخيسته.

ده له افغانستان او افغانيت سره دومره مينه درلوده چې تصور يې هم نشو كولى چې يو افغان به ملي ګټې تر پښو لاندې كړي. د پرديو خدمت ته به ورودانګي او هېواد پلورى به راوخېژي. بنايي همدا به نيت يې و چې دده او د بچيانو د ژوندانه په بيه ورته پرېوت.

ولسمشر محمد داود له هيڅ خان، ملک، ځمكوال او ځواكمن كس نه چې له خپل دريغ نه به يې ناوړه كار اخيسته او دغه راز ، هغه چا نه چې د دين او مذهب تر پردې لاندې يې له خلكو ، ګټه پورته كوله، سخته كركه درلوده.

شهید محمد داود پر ۱۹۰۹ کال په کابل کې زیږیدلی او په ۱۹۳۳ کال کې یې د افغانستان د فقید پاچا محمد ظاهر شاه له خور میرمن زینب سره واده وکړ چې د اوو بچیانو څښتن شو: څلور لونې او درې زامن.

هغه یوه ښه میړه او مهربانه پلار و. بچیان یې هم د خپل پلار په څېر د ټینګ عزم او نیکو اخلاقو څښتنان وو او د عبادت تر پولې یې له خپل پلار سره مینه درلوده.



ولسمشر محمد داود د خپلو یو شمېر لمسیانو په منځ کې

د محمد داود پنځه بچیان د ۱۳۵۲ کال د ثور پر اوومه له خپل پلار سره یوځای ووژل شول. مشره لورېې تورپیکۍ چې ژوندۍ پاتې وه د عمر تر پایه له روحي فشار او پرله پسې ناروغۍ نه رانه وتله او د ۲۰۰۰ کال په سپټمبر کې د سویس په لوزان کې مړه شوه.

د مرحوم محمد داود له بچیانو څخه اوس یوازې یوه لور – میرمن درخانۍ نور ژوندۍ ده چې له خپل میړه ډاکټر توریالي نور سره د سویس په لوزان کې اوسي.

اوس چې د مرحوم محمد داود هډونه د خپلې کورنۍ له نورو غړو سره یوځای خاوروته سپارل کیږي، دا به تر څه ځایه د هغه د نژدې کسانو او ملګرو زړونه ټکور کړي، خو د هغه شهید

روح به په داسې حال کې چې افغان ملت په بېوزلۍ او فقر اخته دی او په هېواد کې یې کور ورانوونکې جګړه روانه ده، لا هم ارام نه وي. ځکه چې هغه د افغانستان لپاره ژوند کاوه او خپل سر یې له افغانستان نه ځار کړ.

# یو ویاړلی افغان ژوند

غلام محمد زرملوال/لندن

"بمردم افغانستان بگویم!
ایمردم محمد داود شما را دوست میداشت"
"محمد حسن شرق"

د ۱۹۵۳ کال د سپتامبر پر ٦ نېټه په افغانستان کې د لومړي وزیر شاه محمود د "تجربوي دیموکراسۍ" دوره پای ته ورسېده او پر ځای یې محمد داود د نوي حکومت په جوړولو موظف شو. نوموړی پداسې یوه زماني پړاو کې لومړی وزیر شو چې افغانستان په نړیواله کچه. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د لوېدیز - ختیز ترمنځ د سړې جګړې له سترېدونکي توپان: او په سیمییزه توګه - له اقتصادي پلوه بېوزلي او د انګرېزانو پر لاس پر وچه کې ایسار کړ شوي افغانان - د کینه کښو رقیبو ګاونډیانو له ګواښ سره مخامخ وو. مرحوم محمد داود. چې د خپل ویاړمن ژوند په بهیر کې یې له اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پلوه د یوه مترقي او په خپلو پښو ولاړ افغانستان ارمان په ککره کې روزه، مجبور و د ورسره مخامخ ننګونو په منځ کې د له احتیاط نه ډکو مانوروونو په ترځ کې لار وباسي.

حسن شرق د خپل کتاب "کرباس پوشهای برهنه پا" په ۱۴۱

مخ کې لیکي: "ما چې د خپل عمر ۲۵ کاله له محمد داود سره په همکاري او نږدېکت کې تېر کړي وو، دې عقیدې ته رسېدلی وم چې نوموړي، له هر څه نه پورته، له افغانستان او د هغه له خلکو سره مینه لرله. د غم او ښادۍ د محافلو پر مهال، په ځانګړو ویناو او رسمي دندو کې هغه د افغانستان او افغانانو په هکله فکر کاوه. له همدې کبله نوموړي ته درناوی او ور سره دوستي له افغانستان سره د دوستۍ او عشق مانا لرله.."

مرحوم محمد داود پدې ګروهمن و چې په هیواد کې د اقتصادي بنسټونو له پر پښو درولو او ټینګولو پرته، نورو ملي هیلو او ښېرازیو ته رسېدل شوني نه وو. نو په ۱۹۵۳ کې د خپل حکومت د تصدي له هماغه پیل څخه یې، په کورنۍ کچه، د ملي اقتصاد د پیاوړتیا پر لارو- چارو پام متمرکز کړ. په نړیواله او سیمییزه کچه د دې زماني د سترو بدلونو په لړۍ کې د جوزف ستالین مرګ هم شامل و او شوروي، د خروسچف پر مشرۍ، له "سوسیالستي بلاک" څخه بهر نورو، په تېره د وروسته پاتې درېیمې نړۍ له نویو خپلواک شویو هیوادونو سره، د دوه اړخیزو اړیکو هڅه کوله. پداسې حال کې چې د افغانستان ختیځ او لوېدیځ "مسلمانو" ګاونډیانو پر افغانستان د اقتصاد او تجارت لارې تړلې وې او د افغانانو پر ستوني یې چاړه ایښې وه، مرحوم محمد داود په ۱۹۵۳ کال - د لوېدیز بلاک او افغان دښمنه سیمییزو ځواکونو له غابن- چیچې سره-سره - د شوروي صدراعظم، بولګانین، او د نوموړي هیواد د کمونست ګوند منشي، خروسچف، ته بلنه ورکړه چې کابل ته سفر وکړي. د همدې سفر په پایله کې شوروي افغانستان ته سل ملیون ډالره پور ورکړ؛ او له هغه سره په هیواد کې د منظمو پلانونو پر اساس د ودانولو کارونه پیل.شول. د اوبو او برېښنا د بندونو، لویو لارو

فابريکو، سترو صنعتي
جوړولو، د کرهڼې او اوبو لګولو، په ګډون په
روغتيايي مرکزونو، پوهنتونونو او پوهنيزو مرکزونو نه شي په
افغانستان کې په سلګونو نورې داسې عمراني پروژې
ګوته کېدلای چې هغه دې د مرحوم داود د لس کلنې تصدۍ
[۱۹۵۳-۱۹۶۳] لاس ته راوړنې نه وې.
له بلې خوا افغانان د خپل هيواد د امنيت او ملي دفاع له
ننګونې سره مخامخ وو.
د نړيوالې دويمې جګړې په پای کې برتانيا نه شوه کولای
چې پر خپلو کالونيو مخامخ حکومت وکړای شي، نو د داسې
وضعې د جوړولو په لټه کې وه چې په سيمه کې خپل شتون ته
په نامخامخ توګه دوام ورکړي. له همدې کبله وو چې په ۱۹۴۷
کال کې هند د پرنګي پر خوښه مات او د مذهبي احساساتو د
پارولو په ترڅ کې يې د پاکستان په نامه د يوه "مصنوعي" دولت
د بنسټ ډبره د "پاک او ناپاک" ترمنځ د بيلتون، کرکې او د
مليونونو وګړيو پر وينو کېښودله. پر داسې وينو او کرکه چې د
"پاک" پنجابي او "ناپاک" هندي ترمنځ د بيا روغې جوړې امکان
يې ناشونی وګرځاوه. او د دې پرځای چې افغانانو ته د يوه
شمېر ستراتېژيکي کوټلونو شاته پرته خپله تاريخي خاوره، چې
پرنګيانو ته د ګندمک د پوهاوي پر اساس - د روسانو په مقابل
کې د پوځي دفاعي کرښې پر موخو - په کرايه ورکړل شوې وه،
بېر ته وسپاري، هغه يې پنجابي او مهاجر متجاوز استبداد او
بېروکراسۍ ته وسپارله. دې کار په سيمه کې د تلپاتو ستونزو
زړي وشيندل او له هماغه دمه، د افغانستان د خاورې د هضمولو
پر تکل، نوي جوړ شوي پاکستان، د برتانيا او امريکا له خوا د
جوړ شويو بغداد سيتو، سينټو پوځي بلاکونو په لمن کې، د
افغانانو د تباهۍ بهې ووهلې.

مرحوم محمد داود چمتو نه و چې افغانستان په نړيوالو اړيکو کې له تجريد سره مخامخ او د "ازاد او مثبت قضاوت" له حق څخه محروم پاتې وي. نو په ۱۹۵۵ کال کې يې د باندونګ په کانفرانس کې برخه واخسته او د بې پرې هيوادونو د نهضت بنسټ اېښودونکی غړی شو. د مصر د جمهور رئيس، جمال عبدالناصر؛ د اندونيزيا د جمهور رئيس، عبدالرحيم سوکارنو؛ او د هند د صدراعظم، جواهر لال نهرو، په ګډون پدې غورځنګ کې د کلونياليزم له منګولو څخه د ازادو شويو هيوادونو هغه غړي شامل وو چې د خپل ملي حاکميت د خوندي ساتلو، ټولنيزې او اقتصادي ودې په هيله يې نه غوښتل د لوېديز-ختيز په پوځي بلاکونو کې شامل شي.

امريکا پاکستان تر غاښونو پورې پر وسلو سمبال کړی و. او همدا دليل و چې پنجابي جرنيلانو او بېروکراسی ته يې جرئت ورکړ په ۱۹۵۵ کال کې، د "شمالي صوبه سرحد" او بلوچستان په ګډون، لوېديز پاکستان "يو يونټ" اعلان کړي. خو د مرحوم داود حکومت، چې په سيمه کې د کمونيزم او شوروي سره د اوږدې پولې له خطر او د کمونيزم په اړه د افغان ولس له احساساتو څخه خبر و، له دې ټولو پارونو سره په زغم او حوصله چلند کاوه او د افغانستان د دفاع په موخه يې له امريکا نه د وسلې غوښتنه وکړه. خو امريکايي چارواکو په خورا تکبر د افغانستان غوښتنې ته رد ځواب ورکړ؛ د پاکستان د پولو په رسميت پېژندل؛ په امريکايي- برتانوي پوځي بلاکونو کې غړيتوب يې له امريکا سره د دوستی معيار وباله؛ او د ۱۹۵٦ کال د جون پر ۹ نېټه يې - د امريکا د بهرنيو چارو د وزير، جان فوستر دوليس، پر وينا هر ".. هغه هيواد چې د امريکا ملګری نه وي، د امريکا دښمن دی." - افغانستان خپل دښمن وباله.

د ۱۹۵٦ کــال د اګـست د میاشـتې پــر ۲۵ د مرحــوم محمـد داود حکومـت پـه کابـل کـې د یـوې جـوړې شـوې لـویې جرګـې د پریکـړې پـر بنـا، چـې افغانـستان تـه د مخـامخ احتمـالي ګوابـښونو د دفـاع پـه خـاطر د هیـواد وسـلوال مـې پیـاوړې کـړي، لـه شـوروي او چکوسلواکیا څخه د وسلو پېرودلو لومړی تړون لاسلیک کړ.

. پـه نړیوالـه کچـه د لوېـدیز- ختیـز تـرمنځ د "سـړې جګـړې" لـه تودېدو سره، پـر افغانـانو د امریکـا او برتانیـا پـر مټـو او لمسون د دې پـړاو د خـورا رویـو شـویو تېـري کوونکـو سـیمییزو ګاونـډیانو لـه لـوري د اقتــصادي ودې او سیاســي توطیــو چاپېریــال خــورا تړینګلـی او لـه سترو ستونزو سره لاس و ګرېوان و. نـو لـه همـدې کبله وو چې - له دې کړکېچ څخه د وتلو د کـاذبو هیلـو پـه تمـه - پـه ۱۹٦۳ کـال لـه حکومـت څخـه د ګوښـه کولـو پـه پایلـه کـې د مرحـوم داود ) لـه هغـه نـه د مخـه او وروسـته بېـسارې ملـي عمرانـی( لـسیزه پای ته ورسول شوه.

د مرحـــوم داود لـــه اســتعفا وروســـته ډاکتـــر محمـــد یوســـف صـدراعظم شـو. مرحـوم ډاکتـر یوسـف، چـې د سـلطنتي کـورنی لـه غـړو بهـر د افغانـستان لـومړی صـدراعظم و، د خپـل حکومـت پـه جوړولـو پـسې پـه لـومړنی وینـا کـې وایـي چـې د ده حکومـت بـه ګـردې ".. هغـه مـوخې پـه پـام کـې ولـري چـې محمـد داودخـان ورانــدې کــړې وې." د دې موخــو منځپانګــه، چــې د یــو لــړی وړانـدیزونو پـه تـرڅ کـې، پـه بېلابېلـو پړاونـو کـې، د محمـد داود لـه خوا پاچا ته وړاندې شوې وه، دا وه چې:

پـه افغانـستان کـې بـه مـشروطه شاهي، دیموکراسي او پارلماني حکومت منځ ته راځي.

پـه اساسـي قـانون کـې بـه د سـلطنتي کـورنی حـدود تثبیتېږي؛ او دولت به پر تقنینیه، اجرائیه او قضائیه قواو وېشل کېږي.

خو کله چې د ۱۹۶۴ کال د سپتامبر د میاشتې پر نهمه نېټه د نوي اساسي قانون مسوده لویې جرګې ته وړاندې شوه، نو د هغې په ترڅ کې د محمد داود پر خلاف د یو شمېر کړیو نیتونه او غږونه بربنډ شول. د اساسي قانون پر ۲۴ ماده دا قید ور زیات کړ شو چې".. د سلطنتي کورنۍ غړي د تل لپاره د همدې کورنۍ غړي دي..". له همدې سره مرحوم داود په راتلونکې کې د هیواد په سیاسي فعالیت کې له برخې لرلو محروم کړ شو. پر ضد یې د مشهودو دسایسو له درک سره، مرحوم په خپل کور کې کېناست او حالات یې څارل.

د ډاکتر محمد یوسف خان له صدارت څخه پیل بیا تر ۱۹۷۳ کال پورې لسیزه په هیواد کې د سترو بحرانونو شاهده وه. یو پر بل پسې ګڼ شمېر حکومتونه جوړ او له منځه ولاړل؛ د قانون او نظم ریښې وچې شوې وې؛ اداري فساد وروستۍ پولې ته رسېدلی و؛ د افغانانو د سپېڅلو ګروهنو پر خلاف بربنډ تېری روان وو؛ د هیواد د کورنیو او بهرنیو غلیمانو د کرکې چړې د وطن اړانه ګواښله؛ د وچکالۍ، قحطي او طبعي حوادثو له کبله خلکو ژوند له لاسه ورکاوه او په زرګونو کورنۍ مهاجرتونو ته مجبورې شوې وې؛ د "کینې او بښي" ځواکونو پر لاس د کودتاګانو ګنګوسي ډګري شوي وو؛ هیواد په ځوړ او نابودۍ په درشل کې و. د ۱۹۷۳ کال د جولای پر ۱۷ نېټه، محمد داود د "قلابي دیموکراسۍ" پر خلاف وخوځېد؛ په هیواد کې یې جمهوري نظام اعلان کړ.

خو د افغانستان جمهوریت د افغانانو د تاریخي بهرنیو او کورنیو دښمنانو پر لاس - چې له هماغه پیل څخه یې لاسونه سره یو کړل - په وینو او اور کې ډوب کړ شو. په افغانستان کې د خلق- پرچم د کودتا له پیل څخه، چې په ګېډه کې یې د ښي او

کينې ستم پلويانو او له ځان او جهان نه ناخبرو پرديو ايډيولوژي
پرستانو ځالې جوړې کړې وې، د يوه ملت په توګه د بشپړې
تباهۍ کندې ته د افغان ولس د ورلاهو کولو پرېکړه وشوه. د
ايران دولت، د ساواک جاسوسي شبکې او سي آی اې په ګډه،
مخامخ، او په پاکستان کې اجير شويو افغان "بنيادګرو" ته
امريکايي وسلې ورکولې چې په پايله کې يې د نصيرالله بابر تر
قوماندې لاندې پر پنجشېر د تخريبي عملياتو له پيل سره د
افغانستان د دېرش کلنې تراژېدۍ لړۍ پيل شوه.

له نېکه مرغه پدې کې هېڅ د شک ځای نشته چې افغانان يو
وياړلی پياوړی ملت او وياړلی تاريخ لري. د افغانانو ټاټوبی د
زمانو په بهير کې د نهضتونو او مېړونو د زېږولو زانګو وه. له
لوديانو رانيولې، بيا تر سوريانو[1]؛ د پير روښان له غورځنګه بيا د
افغان نشنلزم تر پلار، خوشحال بابا پورې؛ له ميرويس نيکه بيا تر
احمدشاه ابدالي؛ له سيد جمال الدين افغاني بيا تر اماني نهضته؛
د "اصلاح افاغنه" او خدايي خدمتګار ټولنيز- سياسي غورځنګه
او په عمل کې د افغان ملي فلسفي، عدم تشدد، پلي کوونکي
باچاخان؛ د خان عبدالصمدخان اڅکزي تر انجمن وطن؛ او وېښ
زلميانو پورې - ټول هغه څراغونه دي چې افغان اولس ته يې
تګلوری ټاکلی او ملي موخې يې ور په ګوته کړې دي. د يوه پر
هېواد او ولس مين صادق او متقي مسلمان په توګه، د مرحوم
داود نوم د همدې افغان نوميالو په ډله کې ګڼل کېږي. د بدن
هډوکي به يې د افغان ولس زيارتځی؛ او سپېڅلې وينې به يې،
د دېرش کلنې تراژېدۍ په بهير کې د مليونو نورو افغان
شهيدو لوېو زامنو سره يو ځای، زموږ د تاريخي ملي ارمانونو ونه

[1] سلطان بهلول لودي (۱۴۵۱ - ۱۴۸۹)؛ سلطان سکندر لودي (۱۴۸۹ - ۱۵۱۷)؛ او
شېر شاه سوري (وفات - ۱۵۴۵)

خړوبوي.

ځانګه بـه نـن سبـا کـې ګل شي

ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلې دينه

حسن شرق ليکي چې لـه دې نـه مخ کې چې د مرحـوم داود په لاربښوونه جاپـان تـه د سفير پـه توګـه سفر پيـل کـړم، د خـدای پامـاني لپـاره د هغـه کورتـه ورغلـم. مرحـوم داود هيڅکلـه نـه وو ژړلي. دا لـومړی ځل و چـې پـداسـې حـال کې چـې پـه سترګو کـې يـې اوښکې - د وطـن او ولـس لپـاره د مينـې اوښکې - رغړيـدلې، راته وويـل: ".. بگذار يکی از دوستانم زنده بمانـد تـا روزی بمـردم افغانستان بگويد که محمد داود شمارا دوست ميداشت."

مرحوم محمد داود افغان وزېږېد، افغان واوسېد او افغان ومړ.

روح دې يې ښاده وي.

# د ثور کودتا - د مرکز پاشنې پیل

## موسکا داود/لندن

په افغانستان کې چې په زور د واک نیولو څومره تجربې شوي د ټولو پایله د مرکز اوږدمهالي ویجاړي راختلې ده.
دغو تجربو وښوده چې په افغانستان کې له مرکز نه د تېښتې قواوې تر هر بل ځای پیاوړې دي نوځکه په کې د مرکزي واک او واکمن خلاف هر قهري اقدام، پخپله د مرکز په څپ څپاندې پایته رسېږي. په بله وینا، د نورې نړۍ خلاف، په افغانستان کې د رژیم له ړنګېدو سره جوخت، د دولت ستنې هم ړنګېږي او بیا رغول یې تر ناشونې کچې ستونزمن پرېوزي.
د ټولــسمې پېـــړۍ د اوږدو او د شــلمې پېـــړۍ د لومړیـــو اوښتونونه او کودتاوې ددغې ادعا ښه شاهدي وایـي. خـو د مرکز پاشنې تـر ټولـو ترخـه تجربـه د خلـک دیموکراتیـک ګونـد پـه برخـه شوه چې د شلمې پېړۍ په وروستیو کې یې واک په پوځي زور تر لاسه کړ. په دې سره د واک دودیز مرکز له ستې وپاشل شو، داسې چې د "واکمنـی لـه تمثیـل سره سره" د نویـو واکمنـو پـښه هېڅکله هم ټینګه نشوه او په نتیجه کې یې یو نسل له مرکز نه د تېښتې له پیاوړي روحیې سره راستر شو.
ځینې څېړونکي له طالبانو وروسته د افغانستان د بیا یو کولو

او لـه سیاسـي او ټـولنیز پلـوه د بیـا رغولـو سـتونزې لـه مرکـز نـه د تېښتې په همدغه پخه شوې ستړه کې ویني.

خلکـي واکمنـو چـې د داود خـان د جمهـوري رژیـم لـه مـشرانو او د هغوی له کورنیو سره څه وکړل، د تېرو دېرشو کلو لپاره په یوه سرمشق واوښتل.

تـر دې وروسـته لـه هـر نـسکور شـوی مـشر سـره، چـې خـورا ډېـر هـم نـسکورېدل، هماغـه څـه تکرارېدل، چـې انقلابـي رژیـم واک تـه د رسـېدو پـر مهـال لـه خپـل سـلف سـره کـړي وو. پـر ملـي واک بلوسېدل، جـرم نـه بلکـه ویاړ شـو او د ملـي واکمـن سـپکول د ځـان د د درندولو معیار.

راځئ د بېلګې په توګه یوائې پر هغه څه تم شو چې خلکـي مـشرانو د افغانـستان لـه لـومړي ولسمـشر محمـد داود او د هغـه د کورنۍ له غړو سره وکړل: یو ځایي وژل او په پټه د بیـدیا په زړه کې یو ځایي خښول. خوآیا دغه غملړلې تجربه پر همدې ځای پایتـه ورسـېده؟ نـه، دا افغـان واکمـن او افغـاني واکمنـۍ تـه د مړګوني سپکاوي پیلامه شوه.

دلتـه غـواړم د موضـوع پـر همـدې اړخ لـږ تمـه شـم او د تېـرو دېرشو کلو د پېښو په آرشیف کې یې وسپړم:

د خلـک دیموکراتیـک ګونـد د ۱۳۵۷ کـال د ثـور پـر اتمـه د افغانـستان لـومړنی جمهـور رییـس محمـد داود لـه نـژدې ټـولې کـورنۍ سـره پـه دې پلمـه وواژه چـې "مقـاوت یـې کـاوه نـو ځکـه ورسره انقلابي چلند وشو".

انقلابیونـو" نـه یـوازې واکمـن وواژه، بلکـه پـه ټـول وس سـره یـې د هغـه د سـپکولو او هغـه تـه د منسوبې واکمنـۍ د بـې پتـه کولـو هڅه هم وکړه. او په دې ډول یو ځانګړی دود راپیل شو.

کال یو نیم لا نـه و تېـر چـې انقـلاب پـه خپـل مـشر پـسې راسـتون

شو او تر هغه "لا کلک انقلابي چلند" يې ورسره وکړ. که څه هم په رسمي ډول د نورمحم تره کي د مړينې دليل ناروغي ښودل شوې وه، خو چا د رژيم خبره ونه منله.
ددې پټې وژنې قرباني هم په پټه له ارګ نه ايستل شوی و. ځيناستو يې ويل چې په قول آبچکان کې خاورو ته سپارل شوی دی. خو زه چې کله د کابل په آسمايي واټ کې دغې هديرې ته ورغلم، هيچا هم په ډاډ سره نشو ويلی چې د "انقلابي واکمن" قبر کوم دی. يواځ پر يوه ويجاړ شوي قبر شک راته چې ويل کېده، د روسانو تر يرغل وروسته کوم چا تره کي ته د انتساب له لامله په بم الوزولی و.
د ځيناستي يې- حفيظ الله امين دوران تر هغه هم لنډ و: ايله سل ورځې. امين د روسانو د يرغل په ترڅ کې ووژل شو چې د خونې لاره يې د شتو اسنادو له مخې د هغه خپلو ملګرو ورښودلې وه.
امين هم له څو بچيانو، ځينو ملګرو او ساتونکو سره يو ځای چانماري شو. ويل کېږي چې لومړي په زهرو مسموم شوی او وروسته په ډزو وژل شوی و. له مشرانو سره "انقلابي چلند" د ګاونډې زبرځواک تر لاسوهنې وروسته "نوي او پرمختيايي پړاو" ته ننه وت. په رسمي اعلان کې راغلي وو چې "د ثور د ستر انقلاب له آرمانونو سره سم له حفيظ الله امين سره انقلابي ..."!

ځينو روسي پوځيانو چې د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په هغه ناڅاپي يرغل کې يې ونډه درلوده، کلونه وروسته ماته وويل چې د امين پر مړي د وژنې پر هماغه شپه د خپلې ماڼۍ غالۍ ويپچل شوه او په پټه د دارالامان په لمنو کې پرې خاورې واړول شوې.

هغه څوک چې د امين پر څوکۍ کېناست، د خپلې واکمنۍ پر مهال ونه مړ، خو د ژوند وروستۍ شپې ورځې يې په خوارا کړاو په شوروي کې، چې نور نه شوروي و او نه د هغه ملګرې، تېرې کړې.

ببرک کارمل چې مړ شو نو د جهادي واکمنۍ په کلونو کې يوازې خپل مخکني ملګري جنرال دوستم چې دغه مهال پر شمال واکمن و، د قبر ځاى ورکړ. کارمل د آموسين پر غاړه په جيرتانو کې خښ شوى و. هو، خښ شوى و، خو اوس نشته او يوازې يې د قبر نښې پاتې دي.



له حيرتانو نه شپږ- اووه کيلومتره د مزارشريف پر لور په حيرتانو کې د هغه قبر ځينې نښې چې ځايي اوسېدونکي يې د خلک ديموکراتيک ګوند د مخکني مشر ببرک کارمل بولي.

خلکو راته ويل چې طالبانو د ۱۹۹۸ کال په مني کې د بلخ تر نيولو وروسته د ببرک کارمل مړى له دې ځايه ايستلى او پر کوم ناڅرګند لوري وړى دى.

مشر برخلیک هم تر د خلک دیموکراتیک نظام د وروستي مشر برخلیک هم تر خپلو نږدې اسلافو ډېر توپیر نه درلود: له واک نه د ډاکټر نجیب الله لېرې کېدنه ډراماتیکه او وژنه يې خورا کړوونکې وه. د طالبانو په لاس په ۱۹۹٦ کال کې تر اعدام وروسته د نجیب الله مړی د ده هم ټبرو احمدزیو پکتیا ته یوړ او پټ يې خاورو ته وسپاره.



د ګردیز د ختیځ د شل کیلومترۍ په مېلنه کې د ډاکټر نجیب الله قبر

که څه هم ثوري واکمني کلونه وړاندې رنګه شوې، خو لا يې هم د افغانستان پر سیاسي واک ګډه کړې زلزله نه ده درېدلې. تر کودتا ډېرش کاله وروسته هم لا مرکز بېرته هغه ستروالی او مرکزي واکمن هغه درندوالی ندی ګټلی چې د هیواد د یو موټي ساتلو لپاره اړين بلل کېږي.

بنايي نور هغه مهال رارسېدلی وي چې د سیاست د یوه وتلي استاد په وینا، "افغانان د واک او واکمن د څپ څپانده کولو پر ځای، د هغه د پیاوړتیا، ملاتړ یا انتقاد او اصلاح او په خپلو منځو کې د نظر د اجماع له لارې توپیرونو ته د حل لارې ومومي."

# سردار محمد داود
# د ظاهرشاه له نظره

**بي بي سي پښتو ډاټ کام**

د افغانستان لومړی ولسمشر محمد داود یوه نادره پېژندل شوې سیاسي څېره وه چې ګڼ پلویان او همدومره مخالفین لري. د هغه نامه او کارونو د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د دغه هیواد د ژوندانه پر ډېرو ګوټونو سیوری غوړځولی و. خو سره له دې چې له افغانستان سره مینه یې ډېرځ منې، دغه هدف ته د رسېدونکو لارو پر سموالي یې د ټولو نظر یو نه دی.

نژدې تربور او اوښی یې- ظاهرشاه ښایي تر ټولو ډېر په دې دریځ کې وي چې د هغه شخصیت په عیني ډول وارزوي. هغه یې نژدې همزولی، د تره زوی، اوښی، د ښکارونو ملګری او په دفاع وزارت او صدارت کې مخامخ مادون و.

ظاهرشاه د داود خان په شخصیت کې تر ټولو لومړی ژور احساساتي والی او بې پولې خوش باوري لیدله. هغه ویل:" داسې خلک شته چې په دوست پسې ګرځي او خدمتګار لټوي، او داسې کسان هم شته چې غلام لټوي. داود خان د هغو شخصیتونو له ډلې و چې غلام یې لټاوه. هغو کسانو ورته هېڅ ارزښت نه لاره چې سلو کې سل به یې د باور وړ نه وو."

خو ظاهر شاه داود خان ته د یوه پیاوړی صدراعظم په توګه درناوی کاوه، که څه هم ویل یې چې ډېر هوښیار نه و او ژر په قهر کېده.

یو شمېر څېړونکي په افغانستان کې د جمهوریت اعلان په سلطنتي کورنۍ کې د اختلافونو زېږنده بولي چې سته یې د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ تر کودتا وړاندې د یوې لسیزې په سیاسي پرمختیاوو کې نغښتې ده.

د دوی په وینا داود خان تر هغه وروسته چې په نوي اساسي قانون کې د صدارت له څوکۍ بې برخې شو، له پاچا نه مرور شو او بیا یې په ۱۳۵۲ کال کې د کیڼ لاسو افسرانو په ملاتړ خپله دغه عقده حل کړه. مانا دا چې کینه کښ و.

له کیڼ لاسو افسرانو سره نژدې کېدل یوه بله تېروتنه وه چې افغان مورخین یې داود خان ته منسوبوي. د دوی په عقیده شوروي پلوو افسرانو واک ته د ده رسول د یوې بلې کودتا له پاره د لارې هوارول بلل چې په پایله کې یې باید د خلک دیموکراتیک ګوند واک ته رسېدلی وای.

ظاهر شاه هم د چنګاښ تر کودتا وروسته د خپل دغسې یوه احساس یادونه کړې: " زه د روم په سفارت کې وم چې د جمهوریت اخبار را ورسېده او ومې لیدل چې پوځي افسران... کټ مټ هماغه لکه د مصر د کودتا په شان. همالته مې وویل چې خدای دې خیر پیښ کړي، دا لاره چې زه وینم سمه نه ده".

ظاهرشاه د خپل ژوندانه په وروستۍ مرکه کې بي بي سي ته وویل چې داود خان پر واک مین و او هڅه یې کوله چې تر لاسه یې کړي. مخکني افغان ټولواک په همدې تړاو له یوه پټ راز نه هم پرده پورته کړه او زیاته یې کړه: غوښتل یې چې

سلطنت په خپله خوښه داود خان ته پرېږدي، خو هغه ډارېده او نه یې غوښتل چې مخامخ د ده پر ځوکۍ کېني.

ظاهرشاه دغه راز فکر کاوه چې داود خان تر احساساتو لاندې په آسانۍ د ښه او بد توپیر نه شوای کولی. یوه بېلګه یې د هغه په وینا سلطنتي نظام ته د نورو په اشاره د "خوسا" ټکي کارول و. خو وایي چې کله یې له داود خان نه وروسته پر ټېلیفون وپوښتل چې ولې یې هغه نظام چې دوه ځله یې پخپله صدراعظم و، خوسا بللی، نو دهغه ځواب دا و: "نورو پرې دا خبره تپلې وه" - یعني په کودتا کې ملګرو افسرانو.

خو ښایي د افغانستان د لومړي ولسمشر محمد داود د شخصیت تر ټولو بشپړه ارزونه د ظاهر شاه په دې څو ټکو کې ومومو. هغه بي بي سي ته ویلي وو:

"..... داود خان خاین نه و. داود خان ځان غوښتونکی و، خو هیڅکله یې د خپل هېواد په وړاندې د خیانت فکر نه لاره. زه فکر کوم چې ډېر هوښیار نه و، کله به چې شاو خوا کسانو لړ څه وښوراوه، ډېر ژر به په هیجان راغی. زه تل ورته درناوی لرم د یوه صدراعظم په توګه چې یو څه وخت یې ښه کار وکړ. خو د کودتا له لامله چې په دغه ډول یې وکړه، هیڅکله یې نه بښم... خدای دې یې وبښي."

# د لومړني جمهوريت پای

د کابل د ختيځ قطعات پر ښار توی شوي وو، او له بګرام نه پورته ملګرو يې له هوانه په ډزو ملاتړ کاوه.

دواړو هماغه يو ځای ويشته: ارګ- د جمهوري رياست ارګ چې له هرې خوا کلابند و. د خلک ديموکراتيک ګوند کودتا پيل شوې وه.

څوک نه پوهېدل چې په ارګ کې څه تېرېږي او پر سردار محمد داود او کورنۍ يې څه راغلي دي. ځينو افسرانو ويل چې شونې نده په دومره ډزو کې دې ژوندی پاتې وي، خو نورو له دننه نه سخت مقاومت د هغه د ژوند نښه بلله.

ټلوېزيون بند و، خو يوازينۍ راډيو نه يوازې د کودتا په پلوۍ سندرې خپرولې چې د ياغي افسرانو د قوماندې په مرکز اوښتې وه. د افسرانو مشران چې د داود خان په لارښوونه د يوې ناقانونه مظاهرې په کولو لا وړمه شپه توقيف شوي وو، اوس د راډيو ودانۍ ته رسېدلي او د کودتا قوماندې ته اړم وو.

داود خان په ايسار ارګ کې د خپلې کورنۍ له نژدې غړو سره په يوه خونه کې ناست و او په داسې حال کې يې د حالاتو څار کاوه، چې له بهر سره يې ټول اړيکي پرې شوي وو.

دثـور اوومـه ورځ نـژدې پـه تېرېـدو وه. داود خـان د ګلخـانې پـه مـانۍ کـې خپـل برخلیـک تـه ځـان سـپارلی دی. نـه پـوهېږي چـې څه به کېږي.

کودتایي مشران هم پـه خپـل مرکز کې ځان خونـدي نـه ویني. یو یې د راډیـو لـه ودانـۍ نـه د وتلـو وړانـدیز کـوي چـې بـل چېـرې ځانونه پټ کړي، خو نور یې بې زړه بولي او سپکوي یې.

...تیـاره خپـره شـوې ده. کودتـایي افـسرانو پـه پـای کـې ارګ ته خپله لار پرانسته او ګلخانې ته ورسېدل.

پـه راډیـو کـې ددې خبـر پـه اورېـدو سـره خوښـي خپرېږي. "دا دی، د رژیـم مـشر مـو پـه منګولـو کېـوزي" - یـوه یـې نـارې کـړې او بیـا یـې زیاتـه کـړه: "چـې هغـه ونیـول شـي، نـو د رژیـم کـار تمـام دی!"

داود خـــان مقاومـــت کـــوي او ارګ تـــه ورننـــه وتـــي افـــسران د ورنـژدې کېـدو زړه نـشي کـولی. د هغـه ورېنـدار زهـره نعـیم د یـاغي افـسرانو د ډزو پـه بـاران کـې د داود خـان د غوښـتنې لـه مخـې وځـي چـې بـل خونـدي ځـای ومـومي. همـدا ددې سـبب کېـږي چـې هغـه ژونـدۍ پـاتې شـي. دېـرش کالـه وروسـته یـې د کـورنۍ د مـرګ او ژوند هغه شېبې بېرته داسې ورپه زړه کېږي:

"..... مـوږ د داود خـان لـه بچیـانو سـره یوځـای ګلخـانې مـانۍ تـه ورغلـوچې بمبـارد زور واخیـست، هغـه وویـل: ځـئ لانـدې ولاړ شئ. د وتلـو پـر مهـال، د ګلخـانې د وره لـه خوانـه ډزې پیـل شـوې. پـه دهلیـز کـې د داود خـان لـور زرلـښته او لمـسۍ یـې غـزال چـې اتـه کلنـه او د عمـر لـور وه، ټپیـان شـوي وو. هغـوی یـې بلـې خـونې تـه راوړل. زمـا لمـسۍ-- دیـارلس کلنـه صـفورا پـر ټټـر لګېـدلې وه... چې ومو لیده نو مړه شوې وه."

پـه راډیـو کـې هـم د کودتـا مـشران پـر داود خـان غږېـدل. د

هغوی له ډلې نه یو یې - کریم میثاق چې وروسته د مالیې وزیر شو، د هغې شپې نکل داسې کوي:

"مشران د داود خان پر سر په دوو برخو ویشل شوي وو: یوې برخې یې ویل چې د داود خان وژنه تاریخي مسوولیت لري، ژوندی دې پرېښودل شي، خو راډیو ته دې راوستل شي چې پیل شوی عمل تایید کړي او د خلک دیموکراتیک ګوند ته غاړه کېږدي. خو بلې برخې یې ویل چې دا به یوه سیاسي تېروتنه وي او همدا چې خلک د هغه غږ واوري چې ژوندی دی، نو په پلوی به یې پاځونونه پیل شي او دا پاځون به ناکام شي. پر دې موضوع ډېرې خبرې دستګیر پنجشیري او [ببرک] کارمل کولې".

شپه تېره شوه او د ثور اتم سهار را دبره شو. دکابل له شاوخوا نه د ډزو آوزونه ورو ورو په کمېدو شول او ارګ هم بشپړ په چوپتیا کېوت.

راډیو له اتهي نغمو سره یو ځای نوی اعلان درلود: سردار محمد داود او ورور یې له یو شمېر وزیرانو سره په داسې حال کې چې "انقلابي افسرانو" ته یې له تسلیمېدو ډډه کوله، د خپلو اعمالو په سزا ورسېدل.

کریم میثاق هغه شېبه چې د داود خان د وژنې خبر راډیو ته وروړسېد داسې ور په زړه کوي:

"یو افسر مرکزي کمیټې ته رانغه وت، چې له لاسه یې وینې څڅېدې. سلامي یې وکړه، ویل یې چې زما نوم امام الدین دی. او د ګوند غړی یم. زه د ارګ ګلخانې ته ورغلی وم، له داود خان نه مې وغوښتل چې... تسلیم شي... خو هغه راباندې ډزې وکړې په لاس یې وویشتم... لور یې غوښتل چې هغه ډزو ته پرېنږدي، خو هغه لومړی خپله لور وویشته او بیا یې پر ما نورې

دزې وکړې. ما هم خپل کلاشینکوف راواړاوه او ټول مې
ووژل."

زهره نعیم که څه هم د وژنې په شپه کې د داودخان تر
څنګ نه وه، خو دغه پورته نکل په یو څه توپیر تاییدوي.
مېرمن زهره وایي د کورنۍ ژوندي پاتو غړو ورته وروسته وویل
چې داود خان نه غوښتل تسلیم شي او ټینګار یې کاوه چې له
خپلې ټولې کورنۍ سره ګډ مرګ "د پردیو مزدورانو" ته له
تسلیمېدو غوره بولي.

...او په دې ډول د ثور پر اتمه د افغانستان لومړنی ولسمشر
نژدې له خپلې ټولې کورنۍ سره یو ځای ووژل شو. ټول اتلس
کسه: پخپله سردار محمد داود، مېرمن یې زینب، ورو یې سردار
محمد نعیم، خورېې عایشه درې زامن، دوې لوڼې او د غېږې د
کوچنیانو په ګډون لمسیان یې.

د لمر تودوخه په خپرېدو وه، خو د ډزو زور ناست و. کودتا
بریالۍ شوې وه. د ناخرګند برخلیک پر لور د افغانستان لومړني
ګام په سرو وینو رنګ پورته شوی و.

# ۲۴ ساعتونه چې افغانستان يې واړاوه

## داود جنبش/لندن

د افغانستان په تاريخ کې د کړکېچ شيبې لږې نه دي، خو د اويايمو کلونو د پای بحران يې د اوسمهالي تاريخ تر ټولو بوږنوونکې بېلګه بلل کېږي.

په تېرو دېرشو کلو کې هغه عوامل په پراخ ډول څېړل شوي چې د افغانستان لومړنی جمهوريت يې تر لنډ ژوندانه وروسته ونړاوه. د مشرانو غفلت، د کيڼ لاسو ګوندونو بې کنټروله آزادي، د دفاع وزارت په مشرتابه کې مرګوني کمزوري او د کاري استخباراتو نشتوالی ددغه لړ څو بېلګې جوړوي.

خو په دې ټول بهير کې د ولسمشر محمد داود ځای چېرته دی؟ هغه مهال چې مرګ يې په څو قدمی کې و، څه احساس يې درلود؟ آيا د ځان او خپل نظام د ژغورنې ټولې لارې پرې تړل شوې وې؟ او آيا خپل ټول امکانات يې وکارول؟

هغه کوو دېرش کاله وروسته یو ځل بیا د ولسمشر محمد داود د ژوندانه پر آخري ګامونو تېر شو او د وروستیو شېبو په روحي حالت یې ځان وپوهوو.

ددې موخې لپاره مو د هغه د کورنۍ له پاتو غړو، نژدې ملګرو، د کابینې له غړو، د جمهوري ګارډ له افسرانو، د کور له کارکوونکو او دغه راز له یو شمېر کودتایي افسرانو او مشرانو سره مرکې کړې او دا انځور مو چمتو کړی دی.

دا لیکنه د کرونولوژیکو یادښتونو بڼه لري چې د ۱۳۵۷ کال د ثور له اوومې نه د اتمې تر سهار پورې د شاوخوا څلرویشتو ساعتونو د پېښو یو لنډیز جوړوي. هغو کسانو ته چې موږ ورسره خبرې کړې، بې له شکه ګرانه وه چې دومره کلونه وروسته هره شیبه په دقیق ډول راپه زړه کړي. خو بیا هم هڅه شوې چې کښل شوی انځور له اصلي حالت سره تر ډېره نژدې وي.

## د ولسمشر د ژوندانه وروستي ۲۴ ساعتونه:

### د ثور اوومه، د سهار اووه بجې:

ولسمشر د کور په دویم پوړ کې له خپلې کوټې لاندې راغی او سالون ته ننه وت. د چا راتګ ته سترګې په لاره دی. درې ساعته کېږي چې له خوبه جګ شوی دی.

### د سهار اووه بجې او لس دقیقې:

اماني لېسې ته مخامخ د ولسمشر د کور په وره کې یو حکومتي موټر په بیړه راتاو شو او ودرېد. یو اروپایي وزمه څلوېښت کلن سړی ترې راکوز شو او وره ته ورغی.

### د سهار اووه بجې او پنځلس دقیقې:

ساتونکو مېلمه وپېژانده او دننه یې ورپرېښود. دا د کورنیو

ولسمشر او وزير دواړه د مېز تر شا
چارو وزير عبدالقدير دی. ولسمشر او وزير دواړه د مېز تر شا
کېناستل او پر کومه مهمه موضوع غږېږي.
اصلي خبره د خلک ديموکراتيک ګوند د مشرانو نيول دي
چې تېره اوونۍ يې په کابل کې د حکومت خلاف ستره مظاهره
کړې وه. غونډه اوږده نه ده.



د کورنيو چارو وزير عبدالقدير د ثور پر اوومه سهار وختي ولسمشر ته د امنيتي حالت
رپوټ ورکړی و. يوه ورځ وروسته نوموړی په ټپي حالت کې کودتايي افسرانو ته په لاس
ورغی او د هماغې ورځې په ماښام په "روغتون" کې مړ شو.

## د سهار اووه بجې او دېرش دقيقې:

وزير د لنډ رپوټ تر اورولو وروسته په بېړه ووت او د خپل
موټر پر لور ولاړ.

## د سهار اته بجې او پنځلس دقيقې:

ولسمشر د چايو غوښتنه وکړه. څه وچه ډوډۍ، لږ کوچ او مربا
ورووړل شول. سباناری يې وکړ او کار ته د تلو چمتووالی کوي.

## د سهار نهه بجې او لس دقيقې:

ولسمشر نن آبي درېشي اغوستې او همېشنی بکس يې په لاس

کې دی. د ارګ لورته د کور له کوچنۍ دروازې ووت او د ګارد قوماندان او یاور یې هرکلی وکړ.

خبرې يې ونه کړې او موټر ته وخوت. هوا نن سړه ده او ولسمشر د وروستيو ورځو پر خلاف د کار ځای ته پلی ولاړ نه ړ. ښايي بيړه يې درلوده او غوښتل يې تر ګلخانې ماڼۍ شاوخوا يو کيلومتر لاره ژر ووهل شي.

## د سهار نهه بجې او دېرش دقيقې:

ولسمشر د ماڼۍ په لومړي پوړ کې د کابينې د غونډو تالار ته ننه وت او پر خپلې څوکۍ کېناست. وزيران لا مخکې د مېز تر شا تول شوي دي. خو دوه وزيران نه دي راغلي: د فوايد عامې وزير غوث الدين فايق پکتيا ته تللی او د دفاع وزير ډګرجنرال غلام حيدر رسولي په پوځي قطعاتو کې د ښاديو په سمبالولو بوخت دی. مېله دده په خپل نوښت د خلقي او پرچمي مشرانو د نيولو په وياړ جوړه شوې ده.

د کابينې غونډې معمولاً پر سه شنبو جوړېږي، خو وړمه ورځ تول مسايل ونه څېړل شول او د پنجشنبې ورځې ته چې نن ده وځنډول شول. اصلي موضوع د کار او کارګر قانون دی چې خبرې پرې کېږي.

لومړی د کورنيو چارو وزير عبدالقدير ته وار ورکړ شو چې د حکومتي ضد مظاهرو په تړاو د نيول شويو کسانو (خلقي او پرچمي مشرانو) د نيونې او په ښار کې د امنيتي حالت په اړه معلومات ورکړي. هغه وويل چې دېرئ تورن نيول شوي او د کابل ولايت په يوه خونه کې ساتل کېږي.

## د سهار لس بجې:

د کار او کارګر پر نوي قانون بحث پيل شو. خبره پر دې ده

حق لري". وزیران چې "کارګر په کومو شرایطو کې د اعتصاب خپل نظرونه وایي.

## د سهار لس بجې او درې دقیقې:

د دود خلاف د جمهوري ګارډ قوماندان جګړن صاحبجان په بېړه غونډې ته ننه وت او د ولسمشر په غوږ کې یې یو څه وویل. جګړن بېرته ووت. غونډه ادامه لري.

(وروسته څرګنده شوه چې ولسمشر ته له څرخي پله نه د څو ټانکونو د راوتلو خبر ورکړ شوی و. ولسمشر لارښوونه کړې وه چې معلومات دې وشي چې ټانکونه چا راغوښتي دي، ځکه چې ده پخپله دغسې غوښتنه نده کړې.)

## د سهار لس بجې او پنځه څلوېښت دقیقې:

د ګارډ دوه نور افسران په بیړه د بیا هم د معمول خلاف ولسمشر خواته ورغلل او یو څه یې ورته وویل.

(وروسته ښکاره شوه چې افسرانو ولسمشر ته خبر ورکړی و چې ټانکونه بې له دې چې لارښوونو ته ځواب ووایي په بېړه د ښار لور ته پر مخ ځي.)

ولسمشر له ځایه پورته شو او د ماښې په دویم پوړ کې خپل دفتر ته وخوت. د کابینې غونډه د ولسمشر په انتظار وځنډېده.

## د سهار یوولس بجې او پنځه څلوېښت دقیقې:

دوه ټانکونه د راډیو افغانستان مخې ته رسیدلي او عسکرو یې د خپرونو ولکه تر ګوتو کړې ده. لږ وروسته د خلق او پرچم نیول شوي مشران په زرهپوشونو کې راډیو ته راغلل او دننه ودانۍ ته ننه وتل.

## د غرمې دولس بجې:

وزیرانو ارګ ته نږدې د چاودنې په دروند غږ او ویښېدو پر غونډه چې مشري یې اوس د بهرنیو چارو وزارت مرستیال او د وزیرانو شورا منشي وحید عبدالله کوي، اندېښنې سیوری غوړولی دی.

وحید عبدالله وزیران له حالاتو خبر کړل چې له څرخي پله نه څو ټانکونه په خپل سر راوتلي او ښار ته رارسېدلي دي.

## د غرمې دولس بجې او پنځلس دقیقې:

د راډیو رییس ارګ ته ټیلیفون وکړ او د لارښوونې غوښتنه یې وکړه چې څه وکړي. ورته وویل شول چې په یکه توت کې د راډیو پر خپروونکو دستګاوو ترېښنا پرې کړي.

## د غرمې دولس بجې او دېرش دقیقې:

ولسمشر غونډې ته راستون نه شو. د وزیرانو غونډه په خپل سر وځنډېده، د کابینې غړي په دهلیزو او خونې کې ډلې ډلې شول او پر دې چې څه روان دي، ورو ورو خپلمنځي خبرې پیل شوې.

## د ماسپښین یوه بجه:

وزیرانو ته د ډوډۍ د راوړو وخت دی. خو هېڅوک د ډوډۍ په فکر کې نه دي او خواړه هم نشته. حالات شېبه په شېبه کړکېچن کېږي. د څښاک لپاره هم څه نشته.

د ارګ په خوا کې سختې ډزې روانې دي. د ګارډ افسران او سرتېري پر برید کوونکو متقابل ګوزارونه کوي. د برید کوونکو څو ټانکونه وسول او ځینې کسان یې ژوندي ونیول شول او

دننه ارګ ته يوړل شول.

## د ماسپښين يوه بجه او لس دقيقې:

د بريد کوونکو يو مشر او د ځرخي پله د څلورمې زغره والې لوا کندړکمشر اسلم وطنجار په بيړه خپل ټانک له ارګ نه راډيو ته په ښځ کوي او خپلو مشرانو ته د حالاتو د ويجاړي خبر ورکوي.

هغه وايي: ګارډ زموږ څو ټانکونه وويشتل، ملګري مو ووژل شول او که الوتکې هم د داودخان په پلوي راوالوزي نو بيا ورته درېدل ناشوني دي.

## د ماسپښين يوه نيمه بجه:

داود خان غوښتنه کوي چې د هغه د کورنۍ ټول غړي د زامنو، لوڼو لمسيانو او د ده د ورور محمد نعيم د کورنۍ د غړو په ګډون ګلخانې ته راوستل شي.

## د ماسپښين دوه بجې:

ولسمشر هغه کوي چې د کابل له نورو قطعاتو نه مرسته وغواړي. د دفتر ټيلېفونونه هم پرله پسې زنګونه وهي. ولسمشر پخپله هغوی ته ځواب وايي او لارښوونې ورکوي.

## د ماسپښين درې بجې:

په پښتونستان واټ کې د مخابراتو مرکز له ارګ سره غږېږي او په شاوخوا کې د سختو ډزو خبر ورکوي. خبرې لا رواني دي چې بريد کوونکي د مخابراتو د مرکز دروازه الوزوي او دننه ورځي. له ارګ سره د مخابراتو مرکز رابطه پرې کيږي.

## د ماسپښین درې بجې او لس دقیقې:

شل زرهپوش ګاډي په یوه کتار د راډیو پر خوا ورځي. په راډیو کې ځای پرځای شویو کودتايي افسرانو ته پته لګېږي، چې دا د داودخان پلویان دي. له دې امله چې له دومره ډېر ځواک سره مقابله ګرانه ده، کودتايي افسران هغوی ته وايي چې موږ هم د داود خان پلویان یو. نور مخته مه راځئ، وسایط مو همدغلته ودروئ او تاسې راکښته شئ.

تر دې وروسته هغوی نیسي او په دې ډول کودتا ته لومړنی لوی خطر لېرې کېږي.

## د ماز یګر څلور بجې او دېرش دقیقې:

راډیو افغانستان د برید کوونکو افسرانو لومړنی اعلامیه خپروي چې په کې د داود خان د رژیم د ړنګېدو خبر ورکړ شوی او له ټولو پوځي قطعاتو نه غوښتنه شوې چې له ځایه ونه خوځېږي.

## د ماز یګر پنځه بجې او پنځلس دقیقې:

ولسمشر د ګلخانې له دویم پوړ نه لاندې راکوز شو چې خپل وزیران وګوري. وزیران پرې راټول شول. ولسمشر هغوی ته ګوري او نرۍ موسکا یې پر شونډو ده. وزیران غلي دي.

ولسمشر وايي هېڅ تصور یې نه کاوه چې داسې یو حالت به راځي، اوس چې څه وشول نو پړه یې په خپله غاړه اخلي.

## د ماز یګر پنځه بجې او پنځوس دقیقې:

داود خان هماغسې له خپلو وزیرانو سره په خبرو بوخت

فبروري ساعته، چې افغانستان ... له یوه لوښي سره چې په دوو
دی. د پخلنځي یو کارکوونکی ... (ساندویچ) وو سره دي. د داود خان
کې پسې ځو ټوټې پسر
لوري ته ورغی.
ولسمشر یوه ټوټه واخیسته او له وزیرانو یې وغوښتل چې
دوی یې هم واخلي.

## د ماښام شپږ بجې!

د ماښام له یوه کوچنی راډیو په لاس ورستیال ولسمشر سید عبدالاله خبروي، ټول ورته غوږ کې نیولی ده، ویاند د کودتا اعلامیه ... د اعلامیو متنونه یې په شول. ولسمشر دوازه هغه افسران چې د ... پښتو او دري لوستل وپېژندل.

یو ځوان اسلم وطنجار او بل د هوايي قواوو درستیزوال ډګروال عبدالقادر و. سید عبدالاله په سپکاوي سره وایي: "ته اوس دې وطنجار ته وګوره!"



ورستیال ولسمشر سید عبدالاله له ګڼه شمېر کوچنی راډیو درلوده چې د همې له لارې ولسمشر او وزیرانو د کودتا اعلان واورېد. عبدالاله تر وروستي شېبې د ولسمشر تر څنګ پاتې شو او له هغه سره یو ځای ووژل شو

## د ماښام اته بجې او پنځه څلوېښت دقیقې:

لاسي راډیو بیا هم چالان او د بي بي سي راډیو پر څپو

ولاړه ده. لومړی خبر يې دادی چې په افغانستان کې پوځي کودتا شوې، خو د ولسمشر محمد داود او د حکومت برخليک لا روښانه نه دی. يوه وزير چې له نورو لږ لېرې دی او د راډيو غږ نه اوري، له ولسمشر نه پوښتي چې: "بي بي سي څه وويل؟". هغه وايي: "هيڅ، کومه نوې خبره يې نه درلوده."

## د ماخوستن نهه بجې:

له ارګ نه راډيو ته زنګ وهل کيږي چې د حالاتو جاج واخلي. له هغې خوانه يو ناآشنا کس وايي چې حالات سم دي او تاسې انديښنه مه کوئ. خو ارګ ته پته لګيږي چې نور نو له پخوانيو مامورينو څخه په راډيو کې څوک نه دي پاتې.

## د ماخوستن نهه بجې او دېرش دقيقې:

د کورنيو چارو وزير عبدالقدير ولسمشر او وزيرانو ته د حالاتو لنډ رپوټ ورکوي. وايي چې د قرغې فرقه هم له لاسه وتلې، په ريشخورو کې اوومه فرقه هم بحراني ده او د حکومت پلوي مشران د کودتا پلويانو وژلي دي.

په پښتونستان واټ، ددفاع وزارت په شاوخوا، د ارګ ختيځو او شمالي برخو ته بريد کوونکي رسېدلي او درندې ډزې کوي.

## د ماخوستن نهه بجې او څلوېښت دقيقې:

وحيد عبدالله ولسمشر ته وړانديز کوي چې پلازمېنه په موقت ډول کندهار ته ولېږدوي او پخپله ژر د بهرنيو چارو وزارت له لارې د کندهار پر لور حرکت وکړي.

داود خان او مشر زوی يې عمر مخالفت کوي، په داسې حال

کې چې ورور يې سردار محمد نعيم وايي چې دا کار بايد لا دمخه شوی وای.

په همدې مهال يو موټر د ګلخانې وره ته رارسيږي چې ولسمشر د کندهار پر لور بوځي. ولسمشر راوځي او چې څنګه غواړي موټر ته پورته شي، د ارګ له مخامخ جومات نه پرې يو ډز کيږي. بيا بل ډز کيږي. داوود خان په بيړه بېرته ګلخانې ته ننه وځي او په دې ډول له ارګ نه د وتلو فکر په بشپړ ډول له سر نه وباسي.




د بهرنيو چارو مرستيال وزير وحيد عبدالله لومړی کس و چې د ثور پر اوومه يې له ولسمشر نه وغوښتل چې پلازمېنه په موقت ډول کندهار ته ولېږدوي. پخپله دی د ثور پر اتمه ژوندی کودتايي افسرانو ونيوه او په هماغه لومړيو ورځو کې يې په پټه اعدام کړ.

## د ماخوستن لس بجې او لس دقيقې:

په ارګ کې دننه حالات په چټکۍ خرابيږي. د کودتا مشران

په جمهوري ګارډ کې له خپلو پلویانو نه چې شمېر یې تر لسو رسېږي، غوښتنه کوي چې پر ارګ فشار ډېر کړي.

د ګلخانې له مخامخ جومات نه پر ماښام پرله پسې ډزې وشوې. د دهلیز قندیل ولګېده او تپه تیاره شوه. د ګلخانې د لویې دروازې پهره دار ولګېده او مړ شو. ډزو پنځه دقیقې دوام وکړ او بیا ودرېدې.

## د ماخوستن لس بجې او پنځلس دقیقې:

په ګلخانه کې خورا ډېر کسان ټپیان شوي او چیغې وهي. تیاره ده څوک نه معلومېږي. چې رڼا ته راوځکول شول نو ولسمشر ولیدل چې مشر زوی یې عمر مړ دی.

هاخوا یې بل زوی خالد په خورا سخت ټپي حالت کې په وینو کې پروت دی. لور یې زرلښته هم لګېدلې خو حالت یې تر خالد ښه دی. ورور یې نعیم خان هم په پښه لګېدلی او د کورنیو چارو د وزیر عبدالقدیر له لاس نه وینې بهیږي.

عبدالقدیر په ټپي حالت کې هم هڅه کوي له کړکۍ نه د جومات تر څنګ پټ شوي برید کوونکي پر خپلې کوچنۍ ماشینګنې وولي. د ولسمشر بل زوی خالد هم ساه ورکړه. لور یې زرلښته هم مړه شوه. له بهر نه لا ډزې روانې دي. ولسمشر پر څوکۍ ناست دی، د بچیانومړوته ګوري خو ژاړي نه.

په سر کې یې څه ورګرځي؟ هېڅوک نه پوهېږي. سترګې یې پر یوه ټکي خښې کړي او غلی دی. وزیران هم زړه نه کوي چې خبرې ورسره وکړي. په ګلخانه کې د کوچنیانو بغارو دهلیزونه پر سر اخیستي دي.

## د شپې یوولس بجې:

د خلک دیموکراتیک ګوند مشر نور محمد تره کی هم د

راډیو په یوه خونه کې پر کوچ غزېدلی او سوچ وهي. یو
جګپوړی ملګری یې څنګ ته په چیغو چیغو ژاړي. تره کی ترې
پوښتنه کوي چې ولې؟ وارخطا یې؟ هغه وایي چې "نه، له
خوښۍ نه ژاړي".

د دوی خبرې لا نه دي بشپړې شوي چې یو افسر په بېړه
ورننه وځي او وایي چې د څرخي پله له پنځلسمې لوا نه څو
ټانکونه د ښار پر خوا خوځېږي او وېره داده چې د داودخان
پلویان به وي.

تره کی او مرسیتال یې ببرک کارمل په بېړه پورته شول او د
څو افسرانو په بدرګه له راډیو نه ووتل چې له احتمالي برید نه
ځانونه خوندي کړي. د ګوند یو بل جګپوړی غړی حفیظ الله
امین له اسلم وطنجار سره په راډیو کې پاتې کېږي او نور مشران
یې په خواجه رواش کې پوځي هوایي ډګر ته ځي چې بشپړ د
هغوی د پلویانو په ولکه کې دی.

## د شپې یوولس بجې او پنځلس دقیقې:

له بګرام نه بم غورځوونکې الوتکې پاڅېدې چې ښار ته
راروان ټانکونه له هوانه بمباري کړي. خو په مخابره کې سره
پوهېږي چې دغه ټانکونه هم د کودتا ملګري دي او ځکه یې له
ویشتلو نه ډډه کېږي.

## د شپې دولس بجې:

د مرکز په ټولو پوځي چونیو کې ولکه د کودتا پلویانو تر
لاسه کړې او په ولایتونو کې هم د ننګرهار د فرقې د خوځېدو
هڅه شنډه شوې ده. د خلک دیموکراتیک ګوند مشران اوس
ډاډه شوي چې پر حکومتي ځواکونو یې بری موندلی دی.

یوائې جمهوري ګارډ مقاومت کوي. خو د ګارډ له ۱٦۰۰ افسرانو او سرتېرو نه هم ډېر لګېدلي او له پاتو سره یې مهمات په خلاصېدو دي.

## د ثور اتمه، د شپې یوه بجه - یوه بجه او شل دقیقې:

د ګارډ قوماندان جګړن صاحبجان پوځي کالي وایستل او په ملکي درېشی کې ګلخانې ته ورغی. ولسمشر ته یې خبر ورکړ اوس چې په ګارډ کې دننه خیانت پیل شوی، له بده مرغه نور څه یې له لاسه پوره نه دي.

ولسمشر ورته وویل چې تمانچه دې ورکړي او پخپله دې د ځان د ژغورلو په هڅه کې شي. صاحب جان وزیرانو ته لاس ورکړ او ولاړ. د ګلخانې په لوی وره کې نور څوک پهره نه کوي او ساتونکي هم هرڅوک په خپله مخه تللي دي.



د جمهوري ګارډ قوماندان جګړن صاحبجان (کېڼې خواته) او د ولسمشر یاور تورن عبدالمجید باز د سردار محمد داود په غوښتنه خپلې تمانچې هغه ته وسپارلې او له ارګ نه ووتل. جګړن صاحبجان دثور په هماغه اتمه د کودتاچیانو په لاس ورغی او ځای پر ځای ووژل شو. یاور عبدالمجید وروسته ونیول شو او له خپلو دوو ورونو او پلار سره یوځای په جوزا (غبرګولي) کې په پټه اعدام شو.

## د ثور اتمه، د شپې دوه بجې او دېرش دقیقې - درې بجې:

وزیران یا د ګلخانې په دهلېزونو کې ګرځي او یا یې د

خونې په کوم کوټ کې څنګ وهلی دی. ولسمشر له خپلو پاتو بچیانو سره د لاندیني پوړ په خونه کې ناست دی او وزیران له ورځي.

د جمهوري ګارډ پاتې قطعات په خپل نوبت د راډیو افغانستان ودانۍ چې د ارګ له شمال ختیځو څنډو شاوخوا یو کیلومتر واټن لري، په درنو ماشینګڼو وویشته او ښیښې یې ورماتې کړې. حفیظ الله امین په هوایي ډګر کې ډګروال عبدالقادر ته وویل چې له بګرام نه الوتکو ته د ارګ د ویشتلو امر وکړي.

ارګ تر هوایي برید لاندې راغی. د دلکشا ماڼۍ برج ولګېده او نیم ویجاړ شو. په دغو بمباریو سره د ولسمشر د پلویانو دا هیله هم ورژېده چې ښایي له بګرام، کندهار یا شینډنډ نه یې د مرستې لپاره الوتکې راپورته شي.

ټولو ته جوته شوې وه چې ځمکنی او هوایي ځواکونه بشپړ کودتاکوونکو ته اوښتي دي. تر هوایي بمباریو وروسته په ارګ کې بشپړه چوپتیا خپره شوه.

## د ثور اتمه، د سهار څلور بجې:

د خلک دیموکراتیک ګوند پټ شوي مشران بیرته د راډیو افغانستان ودانۍ ته راغلل. د هغوی له راستنېدو سره سم د ګارډ پاتې سرتېرو بیا پر راډیو د مشینګڼو برید وکړ او هلته ناست کسان یې و ترهول.

ددې بمباریو په ځواب کې بیا الوتکې راغلې او ارګ یې وویشته. دا ځل د ګلخانې ماڼۍ یو کوټ ولګېده او اور یې واخیست. اوس نو یوازې د سوځېدو غږ و او ډزې بشپړې درېدلې وې.

پر ارګ يوه مرګوني چوپتيا خپره شوې وه. ولسمشر پاتو عسکرو ته وويل چې ده "خپله پرېکړه کړې، تاسې ورشئ او سپينې جنډې پورته کړئ".

## د ثور اتمه، د سهار شپږ بجې:

د ګارد پاتې افسران او سرتېري بريد کوونکو ته تسليم شول. دوی يې په داسې حال کې چې لاسونه يې پورته نيولي وو، د پښتونستان څلور لارې ته ورسول.

ولسمشر په راډيو کې کودتايي افسرانو ته خبر واستاوه چې اسلم وطنجار او عبدالقادر د خبرو لپاره ور ولېږي. نورمحمد تره کي دا وړانديز رد کړ او د بالاحصار له ۴۴۴ کوماندو قطعې نه يې وغوښتل چې ارګ ته ورشي او داود خان ونيسي.

## د ثور اتمه، د سهار شپږ بجې او پنځلس دقيقې:

د کوماندو قطعې يو بلوک افسران ګلخانې ته راورسېدل. يوه تن يې په وره کې پرله پسې يو جاغور تش کړ. بيا دننه ورغلل.

وزيران په دهلېزونو کې وو. يوه افسر امر وکړ: "څوک چې وسله نه لري دې خوا دې راشي." بې وسلې وزيران د دوی خواته ورغلل او يو يو له ګلخانې نه وايستل شول او څنګ ته د ټيليفون په خونه کې بنديان شول.

د ماليې وزير او د ولسمشر مرستيال سيد عبدالاله او د کورنيو چارو وزير عبدالقدير چې دواړو وسلې درلودې له ولسمشر محمد داود سره پاتې شول.

## د ثور اتمه، د سهار شپږ نيمې - اووه بجې:

د کوماندو بلوک په ولسمشر پسې ورغی... د تسليمی غوښتنه ترې

کېږي... انتظار اوږد شو... او د ګلخانې د دهليزونو چوپتيا درندو پرله پسې ډزو چې له يوې خونې نه واورېدل شوې، ماته کړه.

## د ثور اتمه، د سهار اووه بجې او دېرش دقيقې:

راډيو آفغانستان بيړنی خبر لري: "سردار محمد داود... د ليوني مقاومت په نتيجه کې...."

او په دې ډول د ځلوېښتو کړکېچنو ساعتونو په پای کې، د افغانستان د تاريخ يو باب واوښت. پر نوې پاڼه د وينو سور داغ پورې شوی و...

# مړي څنګه وموندل شول

**عبدالولي باز**
**(د بالاحصار د کوماندو افسر او د محمد داود د سر ياور ورور)**

په تېرو دېرشو کلونو کې ډېرو دا هیله درلوده چې څان په هغه راز خبر کړي چې د افغانستان د لومړي ولسمشر محمد داود او د هغه د کورنۍ له وژنې او پټې خښېدنې سره یې تړاو درلود. خو د دغه راز سپړل دومره ستر کار و چې له یوه کوټلي حکومتي پلان او زړه سوي پرته یې بشپړول ناشوني برېښېدل.

سږکال (۱۳۸۷) په پسرلي کې دغه هیله د ولسمشر حامد کرزي تر فرمان وروسته تانده شوه او وغوړېده. حکومتي کمیسیون د هغه په لارښوونه د پلټنو کار پیل کړ.

زه هم تصادفاً" همدغه مهال په کابل کې وم. د داود خان د ورور له لمسي محمد نادر نعیم سره مې چې له وړاندې نه مو سره پېژندل، د مړو د موندلو په چاره کې پریوه کاري پلان سلا وکړه.

ډېر ځله به موږ دواړه د سردار محمد داود له لمسي محمود غازي سره په ګډه څرخي پلټه ته تللو او خپلې پوښتنې او

ګروپونې به مو کولې. د کمیسیون غړو د پښتواني څلورمې زغره والې لوا شاته بیدیا کې په کار پیل کړی و.

هلته د سهار له اتو نه د مازیګر تر دریو بجو پورې پنځوس-شپیته تنه کارګر د کمیسیون تر نظر لاندې په بېلا بېلو ساحو کې په کیندنو بوخت وو. لویې کېږدۍ درول شوې وې، د څښاک او خوراک غم خوړل شوی و.

هر کارګر ته د ورځې درې سوه افغانۍ ورکول کېدې، خو په کومه ورځ چې د سردار محمد داود او د هغه د کورنۍ د غړو مړي وموندل شول، پر دغې تنخواه سل افغانۍ نورې هم د انعام په توګه ورزیاتې شوې.

هرو مرو به لوستونکي ته پوښتنه پیدا شوي وي، چې مړي څنګه وموندل شول؟

کمیسیون خپل کار په رسنیو کې له دې اعلان نه پیل کړی و چې هر چاته د لومړني ولسمشر د خښېدو ځای معلوم وي، له ډار پرته دې ورشي او خبر دې ورکړي. د کمیسیون غړو پخپله هم د پښتواني کمونست رژیم له یو شمېر جګپوړو غړو سره تماسونه ونیول، خو ګټه یې نه درلوده. هر یوه به یې ویل چې نه پوهېږي او خبر نه دي.

ځینو خلکو له دننه او بهر نه ټیلیفونونه وکړل او یو شمېر احتمالي ځایونه یې وښودل. هره نښه کمیسیون ته یوه نوې دنده وه او چې کوم ځای به وښودل شو، هلته به کار پیلېده.

نږدې دوه اوونۍ وروسته سردار نادر نعیم خبر راکړ چې له پکتیا نه د پښتواني څلورمې لوا یو افسر ټیلیفون کړی او ادعا کوي چې د خښېدو اصلي ځای ورمعلوم دی.

پادشاه میر یوه اوونۍ وروسته پخپله کابل ته راغی او چې د کیندنو ځای یې ولید، نو ویې ویل چې تېروتي یو. تقریبا" درې

کیلومتره وړاندې یې د صافي غره تر لوېدیځې لمنې بوتلو چې د غلورمې لوا شمال کېږي.



د غلورمې لوا مخکنی افسر پادشاه میر لومړنی کس و چې د صافي غره په لمنو کې یې د ولسمشر محمد داود او د هغه د کورنۍ د غړو احتمالي قبر راوښود.

چې کله ورورسېدو پادشاه میر وویل: همدا ځای دی. خو تر لږې شېبې وروسته هیجان په نهیلۍ واوښت. داسې برېښېده چې هغه هم ځای نه پېژني. هرې خواته یې وکتل او بیا یې په عاجزۍ وویل: "ورونړو! دېرش کاله تېر شوي او د ځمکې مخ اوښتی نو ځکه تیک نه پوهېږم چې قبرونه به چېرته وي".

همدغه مهال یو لاروی تېرېده او د کمیسیون له کوم غړي نه یې وپوښتل چې دلته په څه بوخت یاست؟ کله چې وپوهېده نو په منډه ولاړ او د نژدې کلي دوه کسان یې راخبر کړل.

حمیدالله او ملاګل دواړه د کلي ملکان راوختل چې له دواړو سره خورا حساس معلومات و. ملا ګل ویل که یې حکومتي اعلان اورېدلی وای نو لا دمخه به مرستې ته راغلی وای.



د ده سبز اوسېدونکي مولاګل ته د ولسمشر محمد داود او د هغه د کورنۍ دغړو د خښېدو ټیک ځای معلوم و

مولا ګـل تقریبا" شـپېته متره شاته راغـی، پـر یـوه ځـای ودرېده او ویې ویل: یـو قبـر دادی. نژدې سـل متـره هـاخوا ولاړاو پـه ګوتـه یـې اشـاره وکـړه: دویـم یـې دادی. مانـا دا چـې مـړي پـه دوو ډلـه ییزو قبرونو کې په جلا ډول خښ شوي دي.

پر دواړو ځایونو کېدنې پیل شوې. تـر څـه کـار وروسـته د مړو نښې ورو ورو رابرسېره کېدې: پـه یـوه قبـر کـې دیـارلس او پـه بـل کې شپاړلس مړي وموندل شول: ښځې، کوچنیان او نارینه.



په دوو ډله ییزو قبرونو ټول ۲۹ مړي وموندل شول چې ښځې، کوچنیان او نارینه په کې ول

په تېره بیا د کوچنیانو هډونه چې یو یې لا هم په خپلې مور پورې کلک نښتی و، زړه بوږنوونکي برېښېدل. وروسته روښانه شوه چې دا د ولسمشر پنځه کلن لمسی حارث و چې د ویشتل کېدو پر مهال د مور په غېږ کې و. د غاړې جامې، بوټونه او د مړو اړوند نور وسایل هم وموندل شول.



له مړو سره څنګ ته د هغوی بوټونه، جامې او نور څیزونه هم پراته ول

مړي وروسته یو یو د ملي امنیت روغتون ته ولېږدول شول او هر یو یې تر لازمو پلټنو وروسته تشخیص شو.

**د پادشاه میر او مولاګل د معلوماتو سرچینې کومې وې؟**

پادشاه میر په کودتا کې د ښکېلې یوې مهمې لوا افسر او د کودتا د یوه مهم پوځي غړي اسلم وطنجار ټولکیوال و. که څه هم د خلک دیموکراتیک ګوند غړی نه و، خو غړو یې د پېژندګلوۍ له مخې پرې باور کاوه.

ده ته د کودتا پر بله ورځ نوي قوماندان لارښوونه کړې وه چې د خپلې قطعې په سیمه کې څو قبرونه چمتو کړي. کله چې

وپېژندل چې دا
مړي د خښېدو لپاره وروړل شول، نو پادشاه میر
د ولسمشر محمد داود او د هغه د کورنۍ غړي دي.
هغه ویل چې کله کودتايي افسران په هغه تیاره شپه کې
ولاړل نو مړي یې یو د بل ترڅنګ کېښودل او له پاسه یې پرې
د ورغلي موټر ترپال وغوړاوه.
پادشاه میر وايي چې تر کودتا دوه اوونۍ وروسته یې خپله
دنده پرېښوده او پاکستان ته ولاړ چې د رژیم خلاف مبارزه
وکړي. دی وايي چې په دغو دوو اوونیو کې یې د پخواني
صدراعظم موسی شفیق د چانماري کېدو صحنه هم په خپلو
سترګو لیدلې چې د واکمن ګوند د مشرتابه یوه غړي یې
لارښوونه کوله.
د مولاګل تکل بیا د کلي د یوه ساده بزګر او د یوه زلموټي
کیسه وه. مولاګل ویل چې پر دغه سیمه یې د تلو راتلو لار تېره
شوې وه. یوه ورځ چې له معمول سره سم په خپله لار روان و، په
دغه سیمه کې یې د عسکرو او موټرو بېسارې ګڼه ګوڼه لیدلې وه.
د یوه عسکر له خولې یې اورېدلي و چې دلته داود خان او د هغه
د کورنۍ غړي خښ شوي او دی یې ساتنې ته درول شوی دی.
څو ورځې وروسته چې پهره ولاړه نو ده د مور په لارښوونه د
قبرونو ځای په نښه کړ او په مذهبي دود یې حلوا ورته راوړه او
په لارویو یې وویشله.
... دادی دېرش کاله وروسته له مولاګل سره د خپل
زلمیتوب حافظې مرسته وکړه او د افغانستان د لومړي ولسمشر
محمد داود او د هغه د کورنۍ د ځینو غړو د خښېدو ټیک ځای
یې کمیسیون ته وښوده.
...مولاګل او کلیوالو یې اوس پر هغه ځای زیارت جوړ کړی
دی.

# خاطرې

د افغانستان د لومړني جمهور رییس محمد داود د برخلیک په اړه چې د ثور پر اوومه څه پېښ راغلل، ډېرې خبرې شوې او بېشمېره کتابونه لیکل شوي. خو یو یې هم بنایي د ارزښت له پلوه هغه څه ته ونه رسېږي چې د ده خپله ورېندار یې وایي. مېرمن زهره د داودخان تر وژل کېدو څو شېبې دمخه په ارګ کې نه هغه سره وه او تر وژل کېدو وروسته یې د هغه او د کورنۍ د غړو مړي په خپلو سترګو لیدلي دي.

مېرمن زهره اوس په لندن کې د زړو خلکو په یوه پالنځي کې شپې تېروي. زموږ همکار داود جنبش د هغې د خاطرو د اورېدو له پاره ورغلی و:

"په لومړي سر کې به څوک تصور هم ونه کړي چې دا د افغانستان د وروستي پاچا خور او د لومړني ولسمشر ورېندار ده. دا د لندن له نورو بېوسه زړو سره یوځای په یوه پالنځي کې اوسي، خو ددې خونه تر هغو توپیر لري څکه چې ټوله د سردار محمد داود او د دې د خپل څښتن محمد نعیم په عکسونو او یادګارونو ډکه ده. دلته د افغانستان د نژدې یوې پېړۍ خاطرې

په دېرش کاله مخکې خونـدي دي، چـې تـر ټولـو ويرجنـې يـې پـه ډېرش کالـه مخکـې پورې اړه مومي."
زهره نـه غـواړي چـې عکـس يـې واخيسـتل شـي، د غـبرګ لـه ښتولـو سـره هـم جـوړه نـه ده، خـو د ثـور د اوومـې نېټـې د غملړلـي پېښـې نکل په لېوالتيا سره کوي:
هغه وايي: په کـور کـې وې او
" پـه هغـه ورځ، نعيم خـان نـه و. لـونې مـې پـه ښـوونځيو تـه تللـي وو. زه مـې د وېښتانو د جوړولـو لـه پـاره لمسيان ښـوونځيو تـه تللـي وو. زه مـې د ويښتانو د جوړولو لـه پاره وتلې وم چـې يـو افسر راغـى او پـه بيـړه يـې ارګ تـه وغوښـتم. مـوږ د داود خـان لـه بچـو سـره يوځـاى ګلخـانې مـاڼۍ تـه ورغلـو. داود خـان پـه خپـل دفتـر کـې لـه چاسره پـر ټيليفـون خبرې کـولې. هلتـه کېناسـتو. پـه دې کـې.... الوتکـو لـه پاسـه د بمونـو غورځـول پيـل کـړل. دا حالـت تـر ماښامه روان و. چـې بمبارد زور واخيسـت، داود خـان وويـل: ځـئ لانـدې ولاړ شـئ. د وتلـو پـر مهـال، د ګلخـانې د وره لـه خوانـه ډزې پيـل شـوې. فکـر کـوم دا د ارګ دننـه د خلقيـانو او پرچميـانو ډزې وې. پـه دهليـز کـې د داود خـان لـور زرلـښته او لمسۍ يـې غـزال چـې اتـه کلنـه او د عمـر لـور وه، ټپيـان شـوي وو. هغـوى يـې بلـې خـونې تـه راوړل. زمـا لمسـۍ-- ديـارلس کلنـه صفورا پـر ټټـر لګېدلې وه، د داودخـان زوم- نظام وويـل چـې ضعف يـې کـړې دی، نـوره ښـه ده، خـو چـې ويـې ليـده نـو مـړه شـوې وه. زما د سترګو په وړاندې مړه شوه."
او د غېږې کوچنيان هم خوندي نه وو:
" شـيما - چـې د سردارصاحب (داود خـان ) نـږور او د وېـس مېرمن وه، دوه بچيـان يـې پـه غېږ کـې نيـولي وو او ديـوال تـه يـې تکيـه کـړې وه، کلـه چـې مـوږ راووتـو دوی پـه ګـولۍ لګېدلي وو. لـه خپلو بچو سره يو ځای درېواړه شهيدان شوي وو".

له زهرې نه مې هیله وکړه چې د: خبره یې ثبت کړم چې ددې په خپل غږ راشي، پورته یې راته وکتل او د هوسرۍ یې وخوځاوه.



نور نکل یې داسې اوږد کړ:

" زما او د نعیم خان لور زرمینه، د داود خان خور عایشه چې معیوبه وه او په ګاډي کې به ګرځېده، د داود خان مېرمن زینب چې زما خور وه او لوڼې یې - شینکۍ او زرلښته داودخان ته ورغلل او څنګ ته یې ودرېدل. دا صحنه مې پخپله نده لیدلې، خو راته وویل شول چې په دې وخت کې داود خان ته له لېرې نه غږ کېده چې تسلیم شه. هغه ورته په ځواب کې وویل چې له خپل خدای پرته چاته نه تسلیمېږي. په همدې وخت کې دوږو غږ شو: داود خان، نعیم خان، زینب، شینکۍ، د داود خان درې واړه زامن: خالد، ویس او عمر او دغه راز نظام - د شاه محمود خان زوی - دوی ټول ځای پرځای همدغلته ووژل شول.

(کودتاکوونکي) وروسته په موږ پسې راغلل او ویل یې چې ځئ
له دې خونې نه ووځئ او که نه نو د کوټې چت دربانديږي
رالوېږي. د وتلو پرمهال مې ولیدل چې د داود خان، نعیم خان
او نورو مړي پراته دي. زه هم په پښه لګېدلې وم. موږ څو تنه
یې وروسته روغتون ته بوتلو. لس ورځې یې دلته وساتلو او بیا
یې محبس ته بوتلو. دوه تنه – د نعیم خان لمسی – خورشید او
توران چې د سردار تیمور شاه زوی و، په روغتون کې وساتل
شول. د داود خان یوه نږور – ګلالۍ چې د عمر مېرمن وه، اووه
ډزه لګېدلې وه، خو ژوندۍ پاتې شوه."

له زهرې نه مې وپوښتل چې د داود خان د خولې وروستي
ټکي یې په یاد دي؟

هغې بې له ځنډه وویل: هو. نکل یې پیل کړ. خو ما ودروله.
نه... خیر دی، په خپلو ټکو یې راته ووایه. او هغې بیا زړه نازړه
موافقه وکړه:

"کله چې هغوی راغلل او لټول یې کول، زه د خپل مېړه
څنګ ته ناسته وم. پښه یې په ګولۍ لګېدلې وه. ما نه غوښتل
چې ووځم خو خپله سردار صاحب (یعنې داود خان) وویل چې
ځئ، ووځئ. ولاړو او په هغه بله خونه کې کېناستو، نور نو بیا نه
یو پوه شوي".

زهره وایي چې د کورنۍ شاوخوا اویا غړي یې د ثور پر
هاغه باراني ورځ ووژل شول. او پوښتي چې دېرش کاله
وروسته اوس داسې څوک شته چې د دوی او د هیواد د
لومړني جمهور رییس د خښېدو ځای ومومي او زیارت پرې جوړ
کړي؟

***

د افغانستان له مخکني ولسمشر محمد داود سره په ملګرو

کسانو کې چې د ثور پر هاغه کړکېچنو شېبو کې تر ناوختـه ورسره پاتې و، يـو هـم دده سر يـاور عبدالمجيـد و. دی د ثـور پـر اتمـه وړانـدې لـه هغـه چـې داود خـان ووژل شـي، خپـل کورتـه واستول شو. خـو د عبدالمجيـد برخليـک هـم تـر داود خـان غـوره راونـه خـوت. دی لـه خپلـو دوو نـورو ورونـو او پـلار سـره يـوه مياشـت وروسته د څرخي پله په زندان کې په پټه ووژل شو.

***

ددغې کورنۍ يو پاتې غړی عبدالولي باز چې پخپله هم هغه مهال د کوماندو افسر و، اوس په لندن کې اوسي. لـه هغـه نـه زمـوږ همکـار داود جنبش پوښـتلي چـې پـه هاغـه ورځ يـې څـه وليـدل او ورور يـې ورتـه د داود خـان د ژوندانـه د وروسـتيو شـېبو څـه تکـل کړی دی.

د خلـک ديموکراتيـک ګونـد دېـرش کالـه د مخـه پـه دې شـعار سـره چـې خلکـو تـه بـه کـور، کـالي او ډوډۍ ورکـوي، واک تـه ورسېد. خـو پـه عمـل کـې دولتـي واک يـوازې د همدغـه ګونـد پـه انحـصار کـې پـاتې شـو او لـږ وروسـته د ناګونـدي وګـړو، مـشرانو او ډلـو ځپـل پيـل شـول. نـوې واکمنـۍ ورو ورو پـه ولـس کـې خپـل ځای له لاسه ورکړ او د هغوی له مقاومت سره مخامخ شو.

***

د خلـک ديمـو کراتيـک ګونـد لـه يـوه مـشر او مخکنـي وزيـر سـليمان لايـق نـه چـې اوس پـه جرمنـي کـې اوسـي، زمـوږ همکـار داود جنبش په يـوه مرکـه کـې پوښـتلي چـې ولـس ولـې د هغـه ګونـد ترڅنګ ونه درېده چې د دوی د سوکالۍ پـه نامـه يـې بيـرغ پورتـه کړی و؟

د کيڼ لاس پـر ډلـو سربېره، ګڼ اسلامپالي ځوانـان هـم پـه دې هڅـه کـې و چـې د زور لـه لارې واک تـر ګوتـو کـړي. د دوی لومړۍ هڅـه د ثـور تـر کودتـا درې کالـه د مخـه پـه پکتيـا او پنجشېر

کې وشوه خو په سختۍ وتکول شوه. خو د خلک ديموکراتيک ګوند واکمنېدو هغوی بيا وهڅول.

***

د اسلامي غورځنګ په دغو مشرانو کې يو هم قاضي محمد امين وقاد و چې د داود خان د واکمنۍ پر مهال يې پاکستان ته پناه وړې وه. له هغه نه زموږ همکار داود جنبش د يوې مرکې په پيل کې پوښتلي چې اسلامپالو ډلو ته د خلک ديموکراتيک ګوند کودتا څنګه وبرېښېده؟ حيران يې کړل که وارخطا؟

# داود خان

## او ستاسې خاطرې یا نظرونه

بي بي سي پښتو ټکی کام

افغانستان د خپل لومړي ولسمشر او مخکني صدراعظم سردارمحمد داود په اړه څه نظر لري او هغه یې په خاطروکې د څه ډول یوه شخصیت په توګه پاتې دی؟

دلته د بي بي سي پښتو خپرونو د اورېدونکو او وېبپاڼې د کتونکو هغه نظرونه په لنډیز سره راخلو چې زموږ په غوښتنه یې راستولي دي. بي بي سي د رارسېدلو خاطرو د رښتینوالي او د نظرونو د سموالي په اړه څه نشي ویلی. څه چې دلته لولئ ستاسې خپلې لیکنې او انګېرنې دي چې د رارسېدو د نېټې له مخې ترتیب شوي او وړاندې کېږي:

***

**فضل رحمان تاجیار د محمد داود د جمهوري ګارډ د قوماندان مرستیال:**

...د ۱۳۵۷ کال د ثور پر اتمه د سهار درې نیمې شوې او د پل خشتي له جومات نه د آذان غږ راغی... کله چې ګلخانې ته ننوتم ناڅاپه مې داود خان ولید. د مالیې وزیر سیدعبدالاله، د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستانی د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال وحید عبدالله له داود خان سره او د کابینې نور غړي

په بله کوټه کې وو.

په دې وخت کې داود خان ماته نژدې شو او ویې فرمایل: "زویه، ځوان یې، ځئ ځانونه تسلیم کړئ. ما خپل تصمیم نیولی دی." همدا مهال د ګارډ قوماندان صاحبجان هم راته وویل چې "جمهور رییس صاحب خپل تصمیم نیولی دی. تاسې ولاړ شئ، قطعه راټوله کړئ او امر وکړئ چې خپلې وسلې په ډېپوګانو کې تسلیم کړي".

خو ماته د یوه مسلمان او افغان په توګه چې د ناموس، اسلام، د وطن د خاورې د ساتنې او د ملي نوامیسو د محافظې لپاره مې پر خدای او قرآن قسم یاد کړی و، د داسې امر قبلول له طاقت نه جګ و....

***

سید سرور، لندن:

شهید محمد داود ۴۶ کاله په حکومت کې له فرقه مشر نه تر جمهوري ریاست پورې دنده تر سره کړې. دده د کار په موده کې اساسي تحولات د ژوندانه په هر ډګر کې راښکاره شول... د جمهوري ریاست پر مهال یې په هیواد کې امنیت ټینګ و او هیواد د غلې دانې له پلوه پر ځان بسیا و، اداري فساد نه و او قانون له بزګره تر داوده پر ټولو یو ډول پلی کېده.

ما پخپله د کابل پوهنتون د یوه محصل په توګه لیدل چې د جمهور رییس لور زرلښته خپل پوهنځي ته په ښاري بس کې راځي. پوهنځي ته د هغې د راتګ نکل هم په زړه پورې دی.

زرلښته د ۱۳۵۵ کال د کانکور په ازموینه کې پاتې شوې وه، د پلار له نفوذ نه یې ونشوای کړی چې د خپلې خوښې پوهنځي ته د تګ ګټه پورته کړي. کله چې د ښکلو هنرونو ډیپارتمنت جوړ شو نو زرلښته هم له نورو کانکور ځپلو سره یو

ځای په خپلو نمرو په هغې کې شامله شوه.

***

**درویش د داود خان خانه سامان:**

ولسمشر محمد داود له همېشني عادت سره سم تر کار وروسته یا د رخصتیو په ورځ په شخصي موټر کې په پرمختیایي پروژو ګرځېده او یا یې د خلکو احوال اخیسته.

عسکر یا ساتونکي یې له ځانه سره نه بیول، ډېر ځله به یې په لاره کې له خلکو سره خبرې کولې، خو چا نه پېژانده.

یوه ورځ چې له دغسې یوې کتنې راستون شوی و، ماته یې وویل چې د ګارډ قوماندان ورته راوغواړم. را مې وست. پوښتنه یې ترې وکړه: بچیه زه بندي یم؟ هغه وویل نه صاحب، ولې؟ ده وویل: نه هرومرو، بندي یم، ځکه چې په بندي پسې عسکر روان وي او نن مې کتل چې تاسې پټ پټ په ما پسې راروان وئ! غواړئ ما وساتئ؟ له چا مې ساتئ؟ که چېرې ما خلک ونه غواړي نو یو یا دوه عسکر څه چې ټانکونه مې هم نشي ساتلی.

دا خبره یې وکړه او په کلکه یې له قوماندان نه وغوښتل چې نور په ده پسې روان نه شي.

***

**قاسم باز:**

پلار مې - بازمحمد خان له کوچني والي نه د داود خان دوست او ملګری و. تل به یې په سختو شېبو کې له ده سره د زړه راز وایه او مشوره به یې ترې غوښته. داود خان د جمهوریت پر مهال، د رخصتۍ په یوه ورځ د خپل کور په چمن کې زما له پلار سره ناست و او خبرې یې ورسره کولې.

ناڅاپه یې زما له پلار نه وپوښتل: خان صاحب، ستا د کوم سندر غاړي آواز خوښېږي؟ (پلار مې وروسته موږ ته وویل چې د ولسمشر په دې پوښتنه حیران شو او نه پوهېده چې څه ځواب

ورکړي.)
لږ غلی شو او بیا یې وویل: د عبدالرحمان اور غږ راباندې ښه لګیږي! تر دې وینا وروسته چوپتیا شوه او یوه هم څه ونه ویل. داود خان بیا زما پلار ته مخ کړ: له ما خو دې ونه پوښتل چې کومه سندره مې خوښیږي؟
پلار مې زړه نازړه ترې وپوښتل: پخپله وواياست چې کومه! داود خان وویل هغه چې وايي: "زما ښکلی جانانه، ما مه شړه له ځانه"، فکر کوم هغه .... هو، غمزده که چا ویلې ده! پلار مې وویل: هو رحیم غمزده ویلې ده.
داود خان تر لږې چوپتیا وروسته بیا وپوښتل: په راډیو کې یې اوس ډېره نه اورم چې ولې؟ پلارمې حیران شو چې څه ووایي، ځکه چې غمزده د ننګرهار چارواکو پاکستان ته د جاسوسۍ په تور (چې وروسته روښانه شوه جعلي و) نیولی و.
په پای کې یې ریښتیا ورته وویل. داود خان هماغه شپه د کورنیو چارو له وزیر نه وغوښتل چې د رحیم غمزده د دوسیې او تور په اړه بشپړ معلومات ورکړي.... څه موده وروسته غمزده په کابل کې زما د پلار سلام ته راغی.

***

**له نا څرګند ځای نه یو بې نومه بریښنا لیک:**

سردار داود ډېر ښه کارونه کړي، خو افسوس چې د افغانستان ۱۲ (؟) مخکني صدراعظمان یې نه وای وژلي.

***

**حکمت الله صدیقي د قزاقستان له چمکنت نه:**

که څه هم داود خان یو مغرور او په دولت مین انسان و، خو ورسره په هیواد او خلکو هم مین وچې د بیا رغاونې ډېر ښه پروګرامونه یې درلودل.

بصير سهاک کوچی، د برتانيې له کارديف نه:

داود خان د افغانستان "پاچا" او د نړۍ زمری و.

* * *

سيد عمر خاورين، پېښور :

داود خان د افغانستان د تاريخ يوه ستره څېره وه.

* * *

ډاکټر عبدالقدير نوري، کندز، افغانستان:

ښاغلی محمد داود د افغانستان د تاريخ يوه وتلې څېره ده چې زه پرې وياړم. د هغه نوم به د افغانستان د بيا رغاونې په تاريخ کې په زرينو ټکو ليکلی وي.

* * *

محبوب الهي، کابل افغانستان

داود خان د نورو افغانانو لپاره يو غوره مثال دی.

* * *

محمد ياسين شريف زی، اسلام آباد، پاکستان:

ما داود خان پخپله نه پېژانده خو د هغه په اړه مې اورېدلي او لوستلي دي. د هغه وژنه نه يوازې خپلې کورنۍ چې ټول هيواد ته يوه لويه ضايعه وه. د هغه وژونکي دې ښاد نه شي.

* * *

محمد خان هيواد وال، کندهار، افغانستان

شهيد محمد داود د افغا نستان او د نړۍ د ازادو خلکو ويا ړ دی.

* * *

صادق ستانکزی، لوګر، افغا نستان

داود خان له هغو جمهورو رييسانو څخه و چې غلامي يې نشوای منلی. هغه د ملت په زړه کې ځای درلود.

* * *

نور حضرت تسل، جلال آباد، افغانستان:

دشهيد سردار صيب د جمهوريت شروع د افغانانو لپاره

له زوال سره سم یې نیکبختي وه، خو بد بختانه د جمهوریت دافغانانو وینې تویېدل شروع شول چه انتها یې نه ده معلومه.

***

عبدالحکیم حکیم، پښین، پاکستان:

فکر کوم چې د داود خان په وژنه کې د ګاونډي هیواد لاس و.

***

ډاکټر اصیل صمیم هډه وال، لندن، بریتانیا:

زه د ښوونځي زده کوونکی وم چې داود خان د خپل ریاست پر مهال د ننګرهار په هډه کې زموږ کلي ته راغی چې د هغه ځای موزیم وګوري. موږ د زده کوونکو په توګه ملي بیرغونه په لاسو کې نیولي وو او له خپلو ځینوښوونکو او کلیوالو سره مو هغه ته هرکلی وایه.

موږ له موزیم نه ډېر لېرې وو، خو په دې وخت کې یو ځوک چې په جیپ کې سپور و راغی، موږ ته یې وویل چې ځئ، تاسې ته چا ویلي چې دلته ودرېږئ. او بیرغونه یې رانه ټول کړل.

له ما سره اوس هم دا پوښتنه ده چې هغه کس به ځوک و چې موږ یې وشړلو او پرې یې نه ښودو چې ولسمشر ته خپل ملاتړ څرګند کړو؟

***

حیات توفان، لندن، بریتانیا:

داود خان د افغانستان لومړی ولسمشر او د احمد شاه بابا او میرویس نیکه په څیر یو رښتونی اتل و. ټول افغانان باید پر هغه وویاړي، ځکه چې هغه له ګورنۍ سره یو ځای خپل سر له افغانستان نه ځار کړ.

***

**محمد نادر فاروقي، د هلمند لښکرګاه، افغانستان:**

سردار محمد داود خان ښه سړی و، خو تېروتنه يې دا وه چې د افغان ټولواک [محمد ظاهرشاه خلاف يې] کودتا وکړه.

***

**ضمير احمد شېرزاد، جلال آباد، افغانستان:**

له کومې ورځې چې داود خان شهيد شوی نوافغانستان ښه ورځ نده ليدلې. دا ټول د خلک ګوند له لاسه دي او خداى پوهېږي چې افغان مظلوم ملت به لا تر کومه په دې بې درمله رنځ اخته وي.

***

**سيد ميرويس، جلال آباد، افغانستان:**

زه پر داود خان وياړم، هغه د افغانستان يو صادق او فعال مشر و.

***

**سميع الله شاکر، کرمان، ايران:**

داود خان د افغانستان غوره مشر او ماته ګران دی، که چېرې اوس وای نو د هېواد د پرمختګ ښې به توپير درلودای.

***

**اميد جان اميد، ګرديز، افغانستان:**

شهيد سرادر محمد داود خان زموږ ملي اتل دی او دی زموږ د هيواد يواځينی غوره مشر ګڼل کېږي. دی د بهرنيو استخباراتو غړو وواژه چې په کار ده د (حامد کرزي) حکومت يې پوښتنه وکړي.

***

**خليل الله فرشاد يوازې، کونړ، افغانستان:**

[خليقان؟] ښه خلک وو چې يوازينی هدف يې د هيواد آبادول و. هغوی د افغانستان پوځ جوړ او په ښو تجهيزاتو سمبال کړاو خلکو ته يې خپل حقونه ورکړل.

مسعود واقف، کابل، افغانستان (په دري ژبه)
زما له نظره د افغانستان تر ټولو وتلی مشر محترم محمد داود یو وطنپال او د بهرني سیاست په ډګر کې یو پیاوړی سیاستوال و.

***

ذبیح الله جلالزی، اسلام آباد، پاکستان:
ما له خپلو خلکو اورېدلي چې، سردار داود یو تکړه او با صلاحیته سړی و او ما یې له اکثرو خلکو صفت اورېدلی دی. زه یقین لرم چې د داود خان وخت به بیا او جمهوري نظام به یې خلکو ته په زړه پورې و.

***

سراج الدین نصیري، ډېلي، هند:
سردار داود خان یو ښه جمهور رییس و، خو خلک باید په دې وپوهول شي چې هغه یو موفقیالی کس و.

***

عبدالقدوس امان، ریاض، سعودي عربستان:
زما په نظر سردارداود خان دافغانستان لپاره یو غر و او پر هغه کودتا نه افغانستان سره ملي خیانت و او پایلې یې دا شوې چې تراوسه افغانستان له یوه نه ختمېدونکي ناورین سره مخ دی او تر څو چې افغانان د سردار داود خان شهید د بې رحمانه مرګ څخه توبه او معذرت ونه غواړي، نو تر هغو به په دې ناورین ککړ وي.

***

عبید علم، لندن، بریتانیا:
هغو کسانو ته دې چې داود خان یې وژلی سزا ورکړ شي.

***

شکیب الله شنیتي، ننګرهار، جلال آباد:
وایي چې د شهید سردار محمد داود د حکمرانۍ په وخت دولتي لوړ پوړو چارواکو، حتی د وزیر تر کچې پورې چا د

دولتي موټرو څخه د شخصي کارونو لپاره استفاده نه شوه کولای او که به څوک ولیدل شو، موټر یې ورته دراوه او دوباره د جمهور رییس له امر پرته چا موټر دغه چارواکي ته نه شو ورکولای.

مګر په اوسني حکومت کې دولتي عادي چارواکي هم دولتي موټرې نه یوازې د شخصي کارونو لپاره استخداموي بلکه ددې تر څنګ د موټرو یو لوی قطار چې بې شمیره وسله وال د ساتونکو په نوم پکې ناست وي دولتي عادي چارواکی بدرګه کوي. برسېره پر نورو کارونو کورته سودا راوړل او د کورنۍ غړو ته په پارکونو او بازارونو کې په دولتي موټرو کې چکر ورکول هم خپل روا حق ګڼي.

***

**محمد صابر، کابل، افغانستان:**

زه یادونه کوم چه په افغانستان کې وضعې او حالت وښودله چې د دیموکراسۍ او حتی جمهوریت له پاره شرایط برابر نه دي. دلته باید داسې یو غیر جمهوري نظام د امریکا او نړۍوالو په مرسته راوستل شی چې په واقعیت کې دې ملک او خلکو ته خدمت وکړی او د واقعي جمهوریت او ډیموکراسۍ لپاره لاره هواره کړي.

داودخان هم بې وخته جمهوریت اعلان کړ او په فطري لحاظ هرڅه چې د پختګۍ مرحلې ته و نه رسېږي او یا په خپل وخت ایجاد نشي د هغه نتیجه همداسې وي لکه د افغانستان اوسنی حالت چې ټوله دنیا یې هم نشي سمولای.

***

**خان ځاځی، لندن، بریتانیا:**

داود خان ښه سړی و چې زه ورته درناوی لرم، خو دوه کارونه یې د منلو نه و. یو د ظاهر شاه خلاف پوځي اقدام چې

نورو ګوندونو هم دغه چل زده کړ چې حکومتونه په کودتا رنګ کړي. بل دا چې د هغه کورنۍ او بهرنۍ تګلارې هم یوه فاجعه شوه. د ویجاړې پر لور د افغانستان لومړی ګام داود خان پورته کړ.

***

**بسم الله امید، خوست، افغانستان:**

سردار داود خان زموږ ملي اتل او موږ پرې ویاړو. د هغه وژونکي دې محاکمه شي.

***

**الف. شګیوال، پونه، هند:**

داود خان د افغان ولس یو له هغو زړورو او هېواد پالو شخصیتونو څخه دی چې باید نوم یې د دُراني احمدشاه، وزیر فتح خان او اعلیحضرت امان الله خان په کتار کې راوستل شي.

***

**میر بریال خیبر، پېښور:**

بهرینو کمونستو مشرانو د میر اکبر خیبر د وژنې پلان جوړ کړی و چې پړه یې پر داود خان واچوله. څو د هغه د حکومت رنګېدو ته لاره جوړه شي او افغانستان ونیول شي.

***

**فیض محمد بارکزی، کندهار، افغانستان:**

سردار محمد داود خان د افغانستان د یو ډېرو پیاوړو او وتلو مشرانو څخه و. نوموړي د افغانستان خلکو ته دا اجازه ورکړه چې د وطن څخه د باندې تعلیم وکړي او بیرته وطن ته راسی او خلکو ته خدمت وکړي. افغانستان به ډېره ترقي کړې وای. د افغانستان خلک په سلو کې ۹۹ په شهید سردار محمد داود خان خوشحاله و.

***

د ۱۳۵۷ کال د ثور پر اوومه د افغانستان د خلک دیموکراتیک گوند کودتا له هماغه پیله د سر له درانده زیان سره ملګرې شوه. کودتایي افسرانو پر قطعاتو د برلاسي لپاره ګڼ جمهوري پلوي افسران ځای پرځای ووژل.

د دفاع وزیر ډګرجنرال غلام حیدر رسولي او لوی درستیز ډګرجنرال عبدالعزیز هم د هغوی په ډله کې راځي. دغه راز پر ارګ د برید پرمهال د جمهوري ګارډ لسګونه مدافعین هم ووژل شول چې کره شمېره یې لا تر اوسه چا ته څرګنده نده.

خو په دې ټول بهیر کې پخپله د ولسمشر محمد داود د کورنۍ یو ځایي وژنه خورا بوږنوونکې پېښه وه. د شتو اسنادو له مخې ولسمشر او د کورنۍ اوولس غړي یې د کودتا د دویمې ورځې سهار وختي د ارګ په ګلخانې ماڼۍ کې په ګولیو ولګېدل او ووژل شول.

تر دغې پېښې دېرش کاله وروسته د پلټنې یوه حکومتي کمیسیون د ولسمشر محمد داود د کورنۍ د ۱۶ غړو هډونه په دوو جلا قبرونو کې رابرسېره کړل. خو د هغوی له ډلې نه د دوو ښځو مړي لاهم ورک دي: یوه د ولسمشر ۱۶ کلنه لمسۍ هیله او بله د ولسمشر خښینه بلقیس.

اټکل دی چې دا وروستي دوه کسه به په ټپي حالت کې کودتاچیانو له ارګ نه ایستلي او وروسته په جلا ځای کې تر خاورو لاندې کړې وي.

د بي بي سي پښتو وېبپاڼې د ولسمشر محمد داود د کورنۍ د ټولو اتلسو وژل شویو غړو عکسونه ترلاسه کړي او په لومړي ځل یې دلته خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي:



• ولسمشر محمد داود چې د وژل کېدو پر مهال
٦٩ کلن و



• مېرمن زېنب (د ولسمشر مېرمن، د پخواني
پاچا محمد ظاهرشاه خور)، د وژل کېدو پر مهال
يې عمر ٦١ کاله




• محمد نعیم خان (د ولسمشر ورور) چې د وژل
کیدو پر مهال ٦٧ کلن و




- مېرمن عایشه (د ولسمشر خور)، د وژل کېدو
پر مهال یې عمر ٥٤ کاله




- بلقیس (د ولسمشر خښینه، د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه خور)، د وژل کېدو پر مهال عمر ٥٦ کاله (هډونه یې لا نه دي پېژندل شوي)




- سردار نظام (د ولسمشر زوم، د مخکني صدر اعظم شاه محمود خان زوی) چې د وژل کېدو پر مهال ۴۳ کلن و



• سردار عمر (د ولسمشر مشر زوی) چې د
وژل کېدو پر مهال ٤٣ کلن و



- سردار وېس (د ولسمشر زوی چې له خالد سره غبرگونی و). عمر یې د وژل کېدو پر مهال ۳۱ کاله



- سردار خالد (د ولسمشر زوی چې له وېس
سره غبرگونی و). عمر یې د وژل کېدو پر مهال
۳۱ کاله




- شینکۍ (د ولسمشر لور)، د وژل کېدو
پرمهال یې عمر ۳۸ کاله،




زرلښته (د ولسمشر لور) د وژل کېدو پر
مهال يې عمر ۲۳ کاله،



- شیما (د ولسمشر نږور، د سردار ویس میرمن له خپل زوی حارث سره). د شیما عمر د وژل کېدو پر مهال عمر ۳۱ کاله، د حارث عمر وژل کېدو پر مهال ۵ کاله



زرمینه (د ولسمشر وربره، د سردار محمد نعیم لور)، د وژل کېدو پر مهال عمر ٤١ کاله.







چاپ چاري: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

www.danishpress.com

+93(0) 700 44 92 98

+93(0) 786 98 86 55